محسن

د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

۱۰۹

# محسن تفسیر

له قرآنه یو څرک

## ۱۰۹ـ د «کافرون» سورت

Ketabton.com

ژباړه او څېړنه :

احمد حسین «عنایت»

(c) ketabton.com: The Digital Library


د کافرون سورت تشريح
ژباړه او څېړنه:
احمد حسين عنايت

بسم الله الرحمن الرحيم
د لوراند او لورين الله په نامه
سورة‌الكافرون

## د کافرون سورت (۱۰۹)

د «کافرون» سورت مکي دی (٦) آيتونه يوه رکوع لري په تلاوت کې (۱۰۹) او په نزول کې (۱۸) سورت دی د «ماعون» له سورت څخه وروسته نازل شوی دی.

د سورة نوم د هغه له لومړي آية «قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ» څخه د «الكافرون» لفظ غوره شوی دی. پخواني او اوسني ډيری مفســرين او روايت کوونکي په دې نظر دي چې دا سورت مکي دی او همدا راز د سورت متن او له مکي سورتونو سره يې ډېره نژدې اړيکه او د مکې له پېښـو سره د سـورت د موضـوع انطباق او اړخ لګونه پر دې دلالت کوي چې دا سـورت دې مکي وي. خو بيا هم ځينو محدودو کسانو دا سورت مدني بللی دی. خو زموږ له ليده د جمهورو مفسرينو د نظر په څېر ددې سورت مکي ګڼل منطقي دي.

نو په هاغه دوران کې چې پيغمبر(ص) لا په مکه کې وو دا سورت نازل شوی دی. دا سورت د همدې له امله «کافرون» نومول شوی دی چې داسې يو شمېر خلکو ته خطاب دی چې قرآن له هغوی د «الکافرون» په نوم يادونه کړې، او «کافرون» د حقيقت پټوونکو او منکرينو ته وايي او له همدې کبله دې سورت ته «جحد» هم وايي چون جحد يعني انکار، او د کفر حقيقت هم انکار او عناد دی.

ددې سورت د نزول د شأن په اړه ويل شوي چې په مکه معظمه کې د پيغمبر(ص) د بعثت په پيل کې د اسلامي دعوت پر خلاف د قريشو په مشـــرکه ټولنه کې د حضـــرت رسول اکرم(ص) پر خلاف د مخالفتونو يو توپان را الوتی وو خو لـه دې سره سره تر دې مهاله لا د قريشو مشـران او سرلاري په دې تمه ول چې په هره بڼه چې شوني وي حضـرت رسول(ص) له دې بلنې واړوي او په يو شکل نه يو شکل يې مصالحت، جوړجاړي او سازښت ته چمتو کړي؛ نو لـــه همدې لامله بـــه يې مهال پر مهال هغه ته د مصـالحت او جوړجاړي لپاره مختلف تجويزونه وړاندې کول او غوښـتل يې که لـــــه هغوی څخه ځينې تجويزونه هم ومني ددوی د بُت نمانځنې، او واکمنۍ پر وړانـــدې بـــه يې راولاړ شوي خـــنډونه تر ډېره بريده کم کړي اوسي، او انګېرلـــــه يې چې په دې توســه به شرکي ټولنه همداســې دوام ومومي او و به غځول شي. په دې لړ کې بې شـــمېره روايتونه نقل شـــوي چې د بېلګې په

(c) ketabton.com: The Digital Library


توګه د حضـــــرت عبدالله بن عباس(رض) روايت ته دلته نغوته کوو: حضـــــرت عبدالله بن عباس(رض) روايت کوي چې د قريش مشـــرانو، رسول الله(ص) ته وويل موږ بــه تاته دومره مال او شته درکړو چې ته به د مکې تر ټولو شتمن سړی شې، ته چې کومه ښځه خوښه کړې ستا واده به له هغې سره وکړل شي، موږ تا پسې تګ ته تيار يو، بس تاسو زموږ دا يوه خبره ومنئ چې زموږ د معبودانو لـــه بدې ستاينې ډډه وکړئ، که دا تاته د منلو نه ده، نو موږ يو بــــل وړانديز تاته وړاندې کوو چې په هغې کې هم ســتا ښـېګنه ده او هم زموږ؛ حضـرت رسول الله(ص) ترې وپوښتل هغه څه دی؟ هغوی ورته وويل؛ يو کال تاسو، زموږ د معبودانو [لات او عزی ...]، عبادت وکړئ او يو کال به موږ ســتاســو د معبود عبادت وکړو. حضــرت رسول اکرم(ص) د مشــرکينو د وړانديزونو په اړه اندنه کوله چې الله تعالی پر خپل استازي(ص) وحی نازله کړه او ورته يې وفرمايل: [قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ. لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ...]

## له مخکيني سورة سره اړيکه او د سورة د منځپانګې چورليځ:

د «کوثر» سورة د «إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ» – [په رښتيني توګه ستا دښمن غوځ نسلی او بې ستې دی] – له آية سره پای ته رسېږي او د «کافرون» سـورة: د «يا ايها الکافرون ..» له غږ سره پيل کېږي، د مخکيني سورة پای او ددې سورة پيل هر دواړه د پيغمبر(ص) د رسالـت منکرينو ته، يعنې همدا د قريشو شتمنو او مستکبرو مشــــرانو او سرلارو ته توجه او پاملرنه لري، هاغو کسانو ته چې لـه هر هغه څه چې برخمن ول، د هغوی په توسه يې له خپل ټول زور او ځواک سره د شرکي نظام د پاسوالی پايښت او ساتنې لپاره هڅه کوله، او د توحيدي نهضت د نشت او نـابودی لپاره يې په هره طريقه او دود چې کولی شول لاس په کار ول. له دې توپير سره چې د کوثر په سورة کې لـه پيغمبر سره د هغوی دښمنی ته نغوته کوي [انّ شانئک...] او د کافرون په سورة کې د خدای تعالی په نسبت د هغوی نــــاشکری او قدر ناپيژاندی ته اشـاره کوي. يعنې ددې سـورت موضـوع توحيد او د شرک نفي کول دي، او لکه په کوم ډول چې نصـيحت کوونکی له پوره افهام او تفهيم سره وعظ او نصـيحت کوي او د مسئلې له پوره وضـاحت وروسـته وايي ما خو درته په پوره وضـاحت څرګنده کړه که اوس يې هم نه منې نو زما لار دا ده او ستا لار هغه ده، نه زه ستا پر لار ځم او نه ته زما لارې ته راځې.

په مخکيني سورة کې يې د پيغمبر وجودي اغېز د «کوثر» لـه کليمې سره ستايلې، چې تلپاتې او دائمي ځوښ، خوټېدنه او جريان مونـدل دي او د کافرانو وجودي اغېز يې د «ابتر» له کلېمې سره ستايلی چې پرېکون، او غوځوالی دی. دا دوه تعريفونـه، د انسان د

(c) ketabton.com: The Digital Library


هڅو په پای کې په بشپړه توګه دوه متفاوتې او متضادې پايلې څرګندوي. له دې پيليزي سره، چې د کوثر په سورة کې راغلې ده، د کافرون سورة په دې دوو لارو کې له برېښنده، قاطع او روښانه بريد ټاکنې سره، له کافرانو سره د مؤمنينو هر ډول ملتيا، جوړ جاړې او سازشکارانه مصلحت پالنه مردوده او نـاسمه ګڼي او پيغمبر ته په ټينګار فرمان ورکوي چې دا ډول دريځ په څرګنده توګه اعلام کړي. لـه دې سره مل د هغوی اختيار او آزادي هم په پام کې لري او د لارې او روش (دين) په انتخاب کې هغوی خپل واک ته پرېږدي:

«لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ»؛

په دې سورت کې د خدای تعالی استازي(ص) ته فرمان ورکول کېږي چې د هغوی له کيش او لارې په څرګنده او برېښــنده توګه خپل برائت ښــکاره کړه او خبر ورکړه چې هغوی هم دده د دين پليونــان نه دي، نو نه دده د ين د هغوی تر ګټې او فايدې لاندې راتلای شي او نه د هغوی دين رسول اکرم خپل لور ته جذبوي، پر دې بنا نـه کفار د هاغه څه نمانځنه کوي چې هغه حضـــرت يې نمانځي او نه هغه حضـــرت تر ابده د هاغه څه نمانځنه کوي چې دوی يې نمانځي، نو کفار دې په دې اړه تر ابده د هـــغه حضرت له جـــوړ جاړې او سازښته نهيلي اوسې.

داسـې برېښـي چې د «عبادت» موضـوع چې لغوي م شتقات يې په سـورة کې د سـورة له لنډون سره سره ۸ ځلې تکرار شـوې ده، د سـورة اصلـي چورليز ت شکيلوي. ددې کلېمې د کاروني د شـمير نسـبت د سـورة لـــه ټولو کليمو سره کابو ۱/۳ دی چې په قرآن کې بې مخينې او بې سـاري دی. چې د عبادت موضـوع د کفارو او مؤمنينو تر منځ څرګند توپير څرګندوي. ددې سـورت له ټوليز لحن څخه څرګنديږي چې کفارو د مسلمانانو د لږ شـمېر په نظر کې نېولو سره غوښتل چې حضـــرت رسول(ص) تر فشار لاندې راوړي، چې وکولی شي د يو ډول سازښت او جوړجاړې په نتيجه کې د هغه د بلنې او غورځنګ مخه ونيســي او يا لږ تر لږه اغيز يې کم کړی اوسي او هغوی يې يو ډول ګډولـه او په شرک ککړ عبادت تـــه هڅولي اوسي او خپل شرک يې په دې ډول لا غځولی او اوږد کړی اوسي او کومې ګټې يې چې د خلکو د جهالـــت په نتيجه کې لاســته راوړلې هغوی ته يې دوام ورکړی اوسي، حضـرت رسول(ص) د الهي فرمان له مخې د هغوی دا نقشه او وړانديز ورشنډ کړ او داســې څرګند، غوڅ او غابښ ماتوونکی ځواب يې ورکړ چې د قريـ شو کفارو لا څه چې د تاريخ په اوږدو کې ټول مشـــرکين او کفار يې په دې اړه نهيلي کړل او د کفارو له دين او روش څخه يې په ښکاره او برېښنده توګه خپل برائت څرګند کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د سورت متن او د لُغتونو ترجمه:

| | |
|---|---|
| بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ<br>قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ﴿١﴾<br>لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ﴿٢﴾<br>وَ لَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ ﴿٣﴾ وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ ﴿٤﴾ وَ لَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ ﴿٥﴾<br>لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ ﴿٦﴾ | قُلْ = ووايه ــ يَا أَيُّهَا = اى، آهاى ـ الْكَافِرُونَ = پټوونکي، منکران، نه منونکي ـ لَا أَعْبُدُ = زه نه نمانځم، زه عبادت نه کوم ــ مَا تَعْبُدُونَ = هغه څه چې تاسو يې نمانځئ، هغه چې تاسو يې عبادت کوئ ــ وَلَا = او نه ــ أَنتُمْ = تاسو ـ عَابِدُونَ = نمانځونکي، عبادت کوونکي ــ مَا أَعْبُدُ = هغه چې زه يې نمانځم ـ وَلَا أَنَا = او نه زه ـ عَابِدٌ = نمانځونکی، عبادت کوونکی، پالونکی ــ مَا عَبَدْتُمْ = هاغه چې تاسو يې نمانځئ، هغه چې تاسو يې عبادت کوئ ـ وَ لَا أَنتُم = او نه تاسو ــ لَكُمْ = تاسو لپاره ــ دِينُكُمْ = ستاسو دين، ستاسو د عمل جزاء ــ وَلِيَ = او زما لپاره ــ دِينِ = زما دين، زما د عمل جزاء ـ |

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ﴿١﴾

ووايه:[(۱)] آهاى! اى کافرانو [اى پټوونکو ډلې].

لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ﴿٢﴾

زه هغه څه چې تاسو يې نمانځئ نه نمانځم.[(۲)]

وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ﴿٣﴾

او تاسو هم د هغه څه چې زه يې نمانځم، نمانځونکي[(۳)] نه یاست.

وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ﴿٤﴾

او نه زه د هغه څه نمانځونکی يم چې تاسو نمانځلی دی،

وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ﴿٥﴾

او نه تاسو د هغه څه نمانځونکي یاست چې زه يې نمانځم،

لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ﴿٦﴾

تاسو لپاره ستاسو دين، او ما لپاره زما دين.[(۴)]

(c) ketabton.com: The Digital Library


| قُلْ | يَا أَيُّهَا | الْكَافِرُونَ |
|---|---|---|
| وواېه | آهای! ای | کافرانو [پټيوونکو] |

| لَا أَعْبُدُ | مَا تَعْبُدُونَ |
|---|---|
| زه نه نمانځم | هغه څه چې تاسو نمانځئ |

| وَلَا أَنْتُمْ | عَابِدُونَ | مَا أَعْبُدُ |
|---|---|---|
| او نه تاسو | نمانځونکي ياست | هغه چې زه نمانځم |

| وَلَا أَنَا | عَابِدٌ | مَا عَبَدْتُمْ |
|---|---|---|
| او نه زه | نمانځونکی یم | هغه څه چې تاسو نمانځلې دی |

| وَلَا أَنْتُمْ | عَابِدُونَ | مَا أَعْبُدُ |
|---|---|---|
| او نه تاسو | نمانځونکي ياست | هغه چې زه يې نمانځم |

| لَكُمْ | دِينُكُمْ | وَلِيَ | دِينِ |
|---|---|---|---|
| تاسو لپاره | ستاسو دين | او ما لپاره | زما دين |

## د سورت د مفرداتو لنډه تشريح:

۱ ــ د «قُلْ» [وواېه] فرمان، تر دې مخکې د «اخلاص» په سورت کې[د بعثت په لومړي کال] او د «ناس» په سورت کې [د دويم کال په رومبيو کې] پيغمبر(ص) ته ابلاغ شوى وو؛ چې هغه دواړه مورده د پيغمبر د خپل ځان د تلقين يا د لومړنيو ايمان راوړونکو په اړه ول، خو دا «قُلْ» هاغو منکرانو ته خطاب دى چې لا يې د ملنډو او ګواښنې ژبه نه وه کارولې.

۲ ــ «عبادت» [نمانځنه]، ددې سورت بنسټيزه کليمه او چورليز ګڼل کېږي چې په دې لنډ پيغام کې ۸ ځلې تکرار شوې ده او له دې ليده په قرآن کې بې سارې ده. له دې لامله ښايي په دې اړه ډېر غور او تدبّر وکړو او که نـــه کافرانو ته يوازې د پيغام ابلاغ او په هغه کې د تاريخي خبر په توګه تم کېدل په مورډ کې کوم بدلون نـــه پنځوي. عبادت معمولاً «نمانځنه» يا «پرستش» معنا کوي، خو آيا چا تر اوسه شيطان نمانځلى دى چې خداى تعالى ګواښـنه کړې ده: « اى بنيادمه مګر تاسو سره مې عهد نه وو ترلى چې د شيطان عبادت مه کوئ» [يس ٦٠(٣٦:٦٠)] «أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَنْ لَا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ....»؟ ځېنو کسانو هم عبادت، «بنده ګي» ترجمه کړى دى، سره ددې چې دا ژباړه تر يو بريده د عبادت له معنا څخه يو څه لېږدوي، خو جامع او مانع نه ده او د مورد پر حساب توضيح ته اړتيا لري. که د «بنده ګی» په کليمه کې، د خداى مخلوق والى په پام کې وي، مشرکينو په دې کې چې خداى تعالى د هغوى خالق او رازق دى کوم شک نه درلود [له هغې جملې دې لاندينيو آيتونو ته مراجعه وشي: زخرف ۹(۴۳:۹) او ۸۷ (۴۳:۸۷)، يونس ۳۱ (۱۰:۳۱)، عنکبوت ٦١ (٢٩:٦١) او ٦٣ (٢٩:٦٣)، زمر ٣٨ (٣٩:٣٨)]. هغوى د بُتانو پر شفاعت او واسطو ته د توسل پر نفي کولو اعتراض کوه او د خداى تعالى له واحدوالي او يوازېتوب څخه يې، چې د واســطه معبودانو د پوړيو د لړۍ نفي کول ورسره اړين دي، انکار کوه. [په دې اړه دې لاندينيو آيتونو ته مراجعه وشي: اعراف ۷۰ (۷:۷۰)، اسراء ٤٦

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۴٦:۱۷)، زمر ۴۵ (۳۹:۴۵)، غافر ۱۲ (۴۰:۱۲) او ص ۵ (۵:۳۸)]. سربیره پر دې، د بنده ګی ویې او جولـــه هماغه د غلامی او مریيتوب د اړیکو او مناسباتو، یاد تازه کوي. چې لـــه لاندیني آیت سره چې د خلقت فلسفه او انساني کرامت بیانوي، په ټکر کې دی «وَمَاخَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ» [ذاريات ٥٦ (٥١:٥٦)].

یو شمیر نورو هم اطاعت او «فرمان وړنـــه» د عبادت د ترجمې په توګه منلې ده. دا ژباړه البته د شـیطان لـــه عبادته د پرهیز د فرمان [یس٦٠(٣٦:٦٠)] او د ورته موردونو ســتونزه حلوي، خو بیا هم د عبادت د کلیمې د روح بیانوونکې نـــه ده، خو که وای همدا راتله. اطاعت او فرمان وړنه هغه مهال ده چې کوم فرمان ورکړل شي، خو م شـــرکین د بُتانو په عبادت کې زیاتره د خپلو حاجتونو په قبول او د ضرر په دفع کولو او د ګټې په جلبولو پسې ول تر دې چې د بُت پالنې د نظام د اربابانو او آمرینو پسې وي.

په توحیدي «عبادت» کې اصـلي شرط په عمل کې اخلاص او لـــه شرکه پرهیز او ځان ژغورنه ده. په دعا او عبادت کې تش د خدایي موخې درلول کافي او بسیا نــه دی؛ د زمر په ســورت کې د «...فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًــا لَهُ الدِّينَ» [۲(۳۹:۲)]، «قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَـهُ الدِّينَ» [۱۱(۳۹:۱۱)]، «قُلِ اللَّهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَـهُ دِينِي» [۱۴(۳۹:۱۴)]، جملو او همدا راز د بینه سورت کې د «وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَـهُ الدِّينَ» [بینه ۵ (۹۸:۵)] جمله څرګندوي: چې د خدای په عبادت کې د دین [آئین او لارې] نږه او خـالصول، په هاغو چارو کې چې خدای تعالی ته ځانګړي دي د هغه موّحدانه او خالصانه عبادت کول دي او لـه شرکه په واسطو توړلو کې پرهیز کول دي.

«په عبادت کې پر اخلاص» سربیره، په قرآن کې په دعا او د خدای په بللو کې هم په ځلونو د اخلاص توصیه شوې ده [له هغې جملې: غافر ۱۴ (۴۰:۱۴) او ٦۵ (۴۰:٦۵)].

هر نمونځ ګذار انسـان چې روزانـــه لږ تر لږه ۱۷ځلې د «إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْـتَعِينُ» جمله تکراروي. د «إِيَّاکَ» ټینګار، همدا اخلاص او د عبادت د منل کېدو شرط دی.

۳ ـ د «وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ»، «وَلَا أَنَا عَابِدٌ» اسمیه جملې، د [ لاتَعْبُدُون، لا اَعبُد] فعلي جملو پر ځای، چې په دویم او څلورم آیتونو کې راغلي دي، د عربي ژبې د ادبیاتو له مخې په انـد او عمل کې پر ټیکاووالي، تلپاتېتوب او دوام دلالت کوي. مقصد دادی چې هر دواړه لوري په خپلو اعتقادي دریځونو کې کلک او ټیکاو یو، او یو لـــه بل سره د ملتیا موخه نه لرو. په «۵» آیة کې بیا ځلې د «۳» آیة د مطلب تکرارېدل هم پر دې یو بل ټینګار دی چې په تـاسو کې په اوسنیو شرایطو کې د توحید د منلو لپاره اړین ډګر او چمتووالی نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴ ــ د « لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ » جمله، د عقیدې او ایمان د آزادۍ منشور دی چې د مکرم رسول (ص) په توسه د «قُل» لـــه فرمان سره، کافرانو ته ابلاغ شوی دی. دا څرګنده ده چې مطلب د کفر او ایمان د پایلې ورته والی او د بندګانو د انتخاب او غوراوي په نحوه او طریقه کې د خدای تعالی بې توپیروالی نـــــه دی، موخه یې انســان ته د عمل ډګر او ټاکنې اختیار ورکول دي چې هر څوک په آزادانـــه توګه خپل برخلیک وټاکي. دین یوه قلبي او د زړه پورې اړونـد چاره ده او اکراه او اجبار پکې لار نلري. نو نه یوازې بې دیني یا د دین تغیرول دنیایي سزا او کیفر نلري، بلکې مذهبي اختلافونــه او جنګونه، مخکې له مخکې محکوم او غندلي دي.

د دین اصلي معنا، د نیکو او بدو عملونو جزا او کیفر دی، بیا ورپسې د هر هیواد نظامونو، مقرراتو او قوانینو ته ویل کیږي، چې وګړي او ښارمندان د هغوی پر بنسټ تر نیاو لاندې نیول کیږي. د قرآن په اصطلاح کې، «دین الملک» د هیواد اساسي قانون ته ویل کېږي، چې پـاچـاهـان د هغوی جاري کوونکي ول. [یوســف ۷۶ (۱۲:۷٦)]. د ښـــوونځیو او پوهنتونونو ښـــوونیز نظام هم چې د هغې پر بنســـټ د هر زده کړیال پاداش [چارلیک]، برخلیک او راتلونکی ټاکل کېږي، د دین د معنا د پوهیدو لپاره یوه ساده بېلګه ده.

همدا راز د سورت په پای کې د « لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ » ټینګار، لـه عبادت سره د دین ډېر نژدې او تنګاتنګ تړاو څرګندوي. د کـافرانو عبادت د هغوی د دین مطابق، یعنې د هغوی په توســـه د خدای نمانځنې آیین په شرک او د بُتانو په شـــفاعت ککړ وو [زمر ۳(۳۹:۳) او ۴۳(۳۹:۴۳)، یونس ۱۸(۱۰:۱۸)، انعام ۵۱(٦:۵۱) او ۷۰(٦:۷۰) او ۹۴(٦:۹۴)]، او د مؤمنینو عبادت د توحیدي دین او آیین پر بنسټ ربّ العالمین ته په بشپړه توګه تسلیم کې دی.

---

## د کافرون سورت له لومړي تر شپږم [۱ ـ ٦] آیتونو بشپړه تشریح:

د «کافرون» سورة د قرآن لـــه کوچنیو سورتونو څخه دی چې له ځانه مخکینې ســـورة سره څرګنده اړیکه لري. د مخکینې ســـورت په وروســـتي آیة کې یې وفرمایل: «إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ.» ستا د دښـمن، په شـا پسې لړۍ پخپله غوڅه او پرې ده. او ومو ویل چې د پیغمبر (ص) دښمنان هماغه کافران او مشـــــرکان ول. «کفر» هم یعنې پټول. «کـافر» هغه چاتـه ویـل کېږي چې حقیقتونه پټوي او نالیدلي یې نیســــــي او هغه ته کومه اعتنا او پاملرنه نه کوي. نو کافر هغه څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی چې پر حقيقت سرپوښ ږدي او هڅه کوي هغه له منځه يوسي. د «کافرون» سورة د همدغه «إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ.» په اړه دی. او ومو ويل چې د قرآن آيتونه لکه د زنځير د کړيو په څېر يو تر بله نښتي دي.

په قرآن کې پنځه سورتونه داسې دي چې د قُل له فرمان سره پيل کېږي چې يو له هغوی همدا د کافرون سورة دی. البته دا مشهوره ده چې وايي «څلور قُل»، يعنې د: ناس، فلق، اخلاص او کافرون سورتونه، خو د «جنّ» سورة هم چې د قرآن دوه اويايم سورة دی له «قل» سره پيل کېږي.
د «قُل» [ووايه] فرمان، تر دې مخکې د «اخلاص» په سورت کې[د بعثت په لومړي کال] او د «ناس» په سورت کې [د دويم کال په ږومبيو کې] پيغمبر (ص) ته ابلاغ شوی وو؛ هغه دواړه موردونه د پيغمبر د خپل ځان د تلقين يا د لومړنيو ايمان راوړونکو په اړه ول، خو دا «قُل» هاغو منکرانو ته خطاب دی چې لا يې د ملنډو او ګواښنې ژبه نه وه کارولې.

د سورت په اړه د ښه روښانتيا لپاره اړينه ده چې د ځينو مطالبو په اړه توضيح ورکړو؛ د پيغمبر اکرم (ص) رسالت او بلنه د هغه له خپلې کورنۍ څخه پيل شوه چې حضرت خديجه(رض) د کورنۍ له ښځو او حضرت علي(رض) د کورنۍ له نارينو څخه لومړني کسان ول چې ايمان يې راوړ او د حضرت رسول(ص) د رسالت او د هغه د ملاتړ اعلان يې وکړ او ورپسې نور کسان هم يو يو چې خبريدل د حضرت رسول (ص) سره مل کېدل. د يوې لنډې مودې لپاره لا پيغمبر اکرم مأموريت نه وو موندلی چې خپله بلنه علني او ښکاره کړي. نو لومړی يې له خپلې کورنۍ څخه پيل وکړ، خپله کورنۍ يې له بني هاشمه چې د هغوی په منځ کې ابولهب هم وو راغونډه کړل په لومړۍ جلسه کې ابولهب جلسه ګډه وډه کړه او مخکې له دې چې پيغمبر(ص) خبره څرګنده کړي جلسه پای ته ورسيده. حضرت رسول اکرم(ص) د دويم ځل لپاره بيا جلسه تشکيل کړه او خپل پيغام يې هغوی ته څرګند کړ. په دې ترتيب عمومي بلنه او تبليغ پيل شو لکه څنګه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د قرآن کريم آيت کې فرمايي: «فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ.» [حجر۹۴(۱۵:۹۴)]. نو هاغه څه چې پرې مأمور شوی يې ښکاره [= عمومي ابلاغ] کړه او له مشرکانو مخ واړوه [= له هغوی سره مه نښله].

په پيل کې د قريشو کفارو دې موضوع ته دومره ارزښت نه ورکوه يعنې نه پوهېدل او نه يې انګېرله چې دا کار به تر دې بريده ستر شي. خو له څه مودې وروسته يې وليدل چې دا کار د يو ګواښ په توګه هغوی ته واوښت ځکه چې د هغوی د خپلې ټولنې له دننه يې ځواک مونده يعنې کسان يو يو له نارينو او ښځينه ؤ لګيا دي، دې بلنې ته مثبت ځواب ورکوي او هر څوک هم چې مثبت ځواب ورکوي دومره تاوده او له حرارته ډک شي چې په هيڅ ډول او بڼه شوني نه ده ترې واوړي. يو مهال به خبرېدل د پلانکي زوی [د اسلام لښکر ته] لاړ، د پلانکي ورور لاړ، د پلانکي خور لاړه، د پلانکي غلام لاړ، پلانکی پخپله لاړ. هر څوک هم چې تله دومره ټينګ او له ټيکاو سره تله چې بېرته نه ستنېده. قريشو له خپل ټول برم او سترتوب سره په واقعي توګه د خطر احساس وکړ، او هغوی وليدل چې يو هيښوونکی وضعيت دی چې په اړه يې هيڅ نشي کولی.

نو د هجرت له پېښې څخه مخکې هغه مهال چې قريش لا په دې تمه ول چې دوی به حضرت رسول^(ص)^ د هغه له دې کاره واړولی شي، نو هغوی له ډېرو لارو رامخکې شول چې يوه له هغوی هم د تطميع لار وه. څرنګه چې هغوی پوهېدل ابوطالب د پيغمبر تره د بني هاشم مشر، د پيغمبر^(ص)^ کلک ملاتړ دی او پيغمبر^(ص)^ هغه ته په ډېر درناوي قائل دی، ابوطالب ته ورغلل او ورته يې وويل ته پخپله دې دا وراره راوغواړه او له هغه سره خبرې وکړه، هر څه چې هغه غواړي مونږ يې ورکوو، خو له خپلې دې لارې، طريقې، مسلک او بلنې دې لاس واخلي، مال او شته هر څه چې غواړي ورته يې ورکوو او که وغواړي، مونږ يې په مکه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د خپل پاچا په عنوان غوره کوو. د قريشو تر ټولو ښکلې نجونې هره يوه چې هغه غواړې په واک کې يې ورکوو، له خپلو ديې خبرو دې لاس واخلې. کله چې ابوطالب حضرت رسول(ص) راوغوښت او حضرت ورغی او ابوطالب د قريشو پيغام ورته وړاندې کړ، حضرت رسول(ص) هغه مشهوره جمله ورته وفرمايله چې: په خدای قسم که لمر راته په يو لاس کې او سپوږمی راته په بل لاس کې کېږدې زه مې له خپلې بلنې او دعوت لاس نه اخلم. ابوطالب هم د خپل وراره په خبره ښه پوه شو او ورته يې وويل: د ورور زويه! نو ډاډه اوسه چې زه هم ستا ملاتړ يم. او په دې توګه د قريشو دې هڅې کومه پايله او نتيجه نه درلوده.

بله لار چې قريشو پيغمبر ته وړاندې کړه، يو ډول سوله او سازښت وو او هغه دا چې؛ نه، يوازې ستا خدای او نه يوازې زموږ خدايان، بلکې کار به په ګډه سره وويشو، او دا اختلاف به په ګډوله توګه له منځه يوسو په دې ډول چې ته او پلويونان دې خپل دين ولرئ، او موږ خپل، بلکې دواړه به ګډ کړو؛ چون هغوی کتل هر څومره چې وخت تېرېږي د اسلام د دين په ګټه دی. ويې ويل؛ دوره او نوبت ږدو، يو کال ته او ستا پلويونان راشئ زموږ خدايان ونمانځئ، بل کال به موږ ټول ستا خدای ونمانځو په هماغه بڼه چې ته يې غواړې. بالاخره ټول به يو له بل سره يو شان او همرنګ اوسو په دې ډول چې د قريشو په ټولنه کې تفرقه او ويشنه رامنځته نه شي. دوه کاله چې تېر شو بيا به يو کال ته او پلويونان دې راځې زموږ د خدايانو نمانځنه به کوئ، بل کال به موږ ټول ستا خدای نمانځو او په دې ترتيب به، نور نو دوه ګونيتوب نه وي، موږ ټولو هر يو به په يو راز په يو ډول او يو شان عمل کړی وي. دا پخپله د سولې لپاره يو ځانګړی فورمول وو. نو همدا ځای وو چې دا آيتونه نازل شول او پيغمبر اکرم لاړ او د قريشو په غونډه کې د ټولو په شتون کې يې په څرګنده توګه له ټکونکي تعبير سره، هماغو کسانو ته چې دا وړانديز يې کړی وو، د خدای تعالی له لورې ورته دا ډول اعلام وکړ: قُلْ يا أَيهَا الْکَافِرُونَ. ای پيغمبره، دوی ته ووايه:

(c) ketabton.com: The Digital Library


اى د کافرانو ډلې، اى هاغو کسانو چې حقيقتونه پټوئ او هغه ته ارزښت نه ورکوئ. يعني الله تعالى خپل پيغمبر ته وايي؛ دا نو نور ستا له لورې نه دى، زما له خوا يې ورته ووايه؛ اى پيغمبره دوى ته ووايه چې: «اى کافرانو!»: چې دا د «اى کافرانو!» لفظ پخپله سخته خبره وه. د هغوى هم دا نه خوښېده چې «کافران» ونومول شي. د «کافر» په مفهوم کې د حقيقت پټول او له حقيقته انکار نغښتى دى؛ اصلاً کافر يعني هغه څوک دى چې له يوه داسې څيزه انکار کوي چې پوهيږي حقيقت دى. يعنې په عربي ژبه کې د کافر معنا له حقيقت پټوونکي سره سره انکار کوونکى او نه منونکى [Unbeliever] دى، او ددې په مقابل کې د «مؤمن» لفظ؛ منونکى، تسليم، او باور کوونکى [Believer] دى. پيغمبر ته وايي؛ دوى ته ووايه: اى کافرانو او اى د حقيقت منکرانو! او په واقعيت کې: اى د حقيقت دښمنانو! زه د خداى له لورې تاسو ته اعلام کوم چې ستاسو وړانديز په ټوليزه توګه رد شوى او د منلو وړ نه دى. په آيت کې چې د هغه وخت مشرکين يا کافرين او په ټوله کې د هرې زمانې ټول کافرين يې مخاطب دي چې ورپسې آيتونو کې نفي له نفي پسې او جزم په جزم پسې، او ټينګار په ټينګار پسې دى، هغه هم د نفي او جزم او ټينګار له ټولو طريقو سره. [قُلْ] : ووايه ...

دا په قاطعانه توګه الهي فرمان دى او ددې مسألې ښکارندوى او الهام ورکوونکي ده چې ددې عقيدې کار د يوازې پالونکي څښتن کار دى. په دې کې د محمد(ص) لپاره هيڅ څيز نشته. خداى تعالى، پالونکى څښتن يې فرمان ورکوونکى دى، داسې فرمان ورکوونکى چې فرمان يې نه ردېږي او نه ستنبږي، او داسې يو حاکم دى چې حکم يې منع کوونکى او ردوونکى نلري. نو دا سورت د مشرکينو د وړانديز په وړاندې نازل شوى دى چې هغوى ويلي ول: يا محمده! راځه سوله اوصفا وکړو چې يو کال ته د بُتانو نمانځنه وکړه او يو کال موږ ستا د خداى نمانځنه کوو، خداى تعالى خپل استازي ته وفرمايل: ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library


ووايه .... قُلْ يا أَيهَا الْكَافِرُونَ. دا د «قُل» امر... د خدای لـه لورې د فرمان اعلان دی چې مخاطبين يې؛ [«کافرين»] ښه ځير شي او ښه پام يې شي چې حضرت رسول اکرم(ص) د ابلاغ او پيـــغام رسولو واسطه دی او دده شخصـــي نظـــر او مصلحت ددغې کار په اجراء کې دخالـــت نه لري او دا ددې لپاره چې په ټوله کې لـــه يو مخې د يو خدای د نمانځنې په اړه د کفارو د هر ډول سازښت او جوړجاړي تمه او هيله غوځه شي. «يا ايها»، يو غږ يا ندا ده لـه ليرې نژدې ته او ويښـپاروونکي ندا ده – [«يا»، لېرې او غـــائب ته ندا ده. «اى»، حاضر او نژدې ته غږ دی. «ها»، هڅوونکی او ويښپاروونکی غږ دی] – په داسې ډول چې ګواکې، نداء ورکوونکی؛ اووښتو، بېخودو او له حقه لېرې خلکو ته نـــداء ورکوي، او ورته نژدې کېږي، او هغوی هڅوي چې ښـايي ويښـيار شي، هوښـيار شي او را په خود شي. تر نداء لانـدې کافران هم هغوی ول چې په خپل کفر کې دومره ټېکاو پاتې شول چې نوره يې ايمان ته له کفر څخه د ستنېدو هيله نـــه وه. ډېری لـــه دوی د قريشو سروال او د بُتانو پاسـوالان ول چې د خپلو معبودانو او د خپل مقصـود او حالت د سـاتلو لپاره او توحيد ته د بلونکي لـــه بلنې څخه د مخنيوي لپاره يې، خپل ټول ځواکونـه په کار واچول او هره وسيله چې يې درلـوده وکاروله او له هرې لارې چې راوړاندې شول او چون توفيق يې و نه مونـد د سازښت او جوړجاړي لپاره يې وړانديزونه پيل کړل. ګواکې وروســتنی وړانديز يې دا وو چې يو کال دې د هغوی بُتان ونمانځل شي او بل کال دې واحد خدای.

ځينې خو لا دا هم وايي چې: چون هاغه حضـرت د قريشو دا وړانديز هم رد کړ او د سازښـت مخه يې ورته ورنـــکړه، ويې ويل: نو راشه زموږ له خدايانو د يوه سـتِه لمس کړه [لاس پرې راکاږه] او له دې وروسته به تا تصـديق کړو او سـتا د خدای نمانځنه به کوو. الله تعالی د هغوی ټول وړانـــديزونه په بنسټيزه توګه رد کړل او دا سورت چې نازل شو هغوی ته غابښ ماتوونکی ځواب وو نو حضـــرت رسـول اکرم(ص) ګهيځ د وخته مسجد الحرام ته ولاړ او د قريشـو د اشرافو د ګڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګوڼې پر سر ودرېد او د قریشو د مشرانو، سرلارو او مخورو په شتون کې یې دا آیتونه تر پایه تلاوت کړل: قُلْ یا أَیها الْکَافِرُونَ. لاأَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ...

لاأَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ. زه د هاغه څه چې تاسو یې عبادت کوئ، عبادت نه کوم. وینو چې ډېره برېښنده او څرګنده خبره ده. معمولاً په سیاسي او ټولنیزو او انقلابي نهضتونو کې، رهبران هڅه کوي په ډېر احتیاط او ورو ورو مخکې لاړ شي؛ ټولې خبرې له هماغه پیله نه کوي؛ پل په پل مخکې ځي او هڅه کوي خپل دریځونه ورو ورو په تدریج او په څو پړاوونو کې روښانه کړي لنډه دا چې غواړي نفوذي چلن وکړي؛ یعني د هاغه ځواک په پرتله چې لاس ته یې راوړي، ورو ورو ځانته ډګر پرانیزي او مخکې ځي. خو قرآن، د بعثت له هماغه پیله، په بنسټیزو او اساسي مسئلو کې پیغمبر ته فرمان ورکوي چې تکلیف روښانه، یو طرفه او جوت کړي. ځکه چې په داسې مسئلو کې د ګډون، ملتیا، سازښت او دوه مخیتوب ځای نشته، چې مثلاً ووایي: موږ به په یو ډول یو بل ته تیر شو، او ورته په نرمه او سیاسي لهجه وایي چې البته تر یو بریده تاسو هم حق لرئ، او ستاسو نظر هم د درناوي وړ دی، او له دې ډول وړاندیزونو څخه چې د نورو د جلبولو لپاره یو څه سر ورسره ښوروي او خپل ځان ورته نرم نرم څرګندوي، په اصطلاح سیاسي کار ورسره کوي. پوهېږو چې ځینې دا ډول چلندونه سم ګڼي.

پیغمبر(ص) ته الله تعالی فرمایي چې: ورته ووایه: ای د کافرانو ټولیه، لاأَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ. زه هاغه څه چې تاسو ورپسې یاست، یعنې دا بُتان چې تاسو یې عبادت کوئ نه قبلوم او عبادت یې نه کوم. ډېر قاطع، روښانه، برېښنده، په زغرده، پرته له کوم مخاتې او دوه مخیتوبه.

نو له هاغې غځېدلې نداء وروسته، د «لا اعبد»، خبره د هاغه راتلونکي په اړه ده چې کافران یې په تمه ول چې ښایي او په هره بڼه چې وي، د هغوی د خدایانو نمانځنه ومني. «تَعْبُدُونَ» هم خبره له راتلونکي ده او په کومه نمانځنه کې چې هغوی بوخت ول د هغوی پر استمرار او تل پاتېتوب دلالت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ویې فرمایل: لاأَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ. زه عبادت نه کوم د هغه څه چې تاسو يې عبادت کوئ، يعني زه هيڅکله او په هيڅ بڼه دا وړانـــديز نـــه منم، دا په جوته توګه ناشوني ده چې زه د هاغه څه عبادت وکړم چې تاسو يې عبادت کوئ. تاسو هم چې مدعيان ياست په نوبتي توګه به زما د خدای عبادت وکړئ دروغ واياست؛ يعنې دا ډول عبادت، عبادت نه دی.

وَلا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ. او تاســو هم حاضر نه ياســت د هاغه چې زه يې عبادت کوم، عبادت وکړئ. «عَابِدُونَ» پر اوســني وضــعيت او فعلي حالت دلالت لري، خو لا أَعْبُدُ فعل دی. يعنې تاسـو د هغه څه عبادت کوونکي نه ياست چې زه يې عبادت کوم. يا په بله وينا په اوسنيو اوضاعو، احوال او شرايطو کې، ستاسو چلن داسې څرګندوي چې تاسـو د هاغه څه چې زه يې عبادت کوم، اهل نه ياسـت، نو فعلاً دا ډول دی چې تاسو هم حاضر نـه ياست د هاغه څه چې زه يې عبادت کوم، عبادت وکړئ. هغوی په خپل وړانـــديز کې ويلي ول چې موږ به هم ستا خدای ته عبادت وکړو. قرآن فرمايي: ورته ووايه تاسو به هم هيڅکله زما د معبود عبادت کوونکي و نـــــه اوســـئ. په وَلا أَنتُمْ عَابِـــــدُونَ مَا أَعْبُدُ. کې د وَلا أَنتُمْ عَابِـدُونَ... اسميه جمله د « وَلا تَعْبُدُونَ » ... پر ځای، د حق معبود په نـه نمانځلو کې د هغوی پر ثبات او ټيکاووالي دلالت کوي.

په واقعيت کې وايي دا ډول عبادت، عبادت نــه دی. که فرض کړو پيغمبر منلی وای ـــ العياذ بالله ـــ چې هغوی راشي يو کال د بُتانو عبادت وکړي يو کال د خدای عبادت وکړي؛ آيا هغه يو کال چې د خدای عبادت بـــه يې کاوه واقعاً د خدای عبادت وو؟ څرګنده ده چې نــه؛ خدای خو شريک نه مني. په شريک نه منلو کې، دا توپير نه کوي چې تاسو خپل نيم عبادت بُـــت ته ځانګړی کړئ او نيم خدای ته، او يا که په ټولــه کې عبادت د خدای او بُـت دواړو لپاره په ګډه وي، دا خو يو ډول شرک دی، يا ټول عبادت يې د بُـت لپاره وي، بيا هم شرک دی؛ يا نن ورځ عبادت يې د بُت لپاره وي سبا د خدای لپاره، بيا هم شرک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه د سبا عبادت هم د خدای عبادت نـــه دی. هغه څوک چې په خپل خيال نن د خدای عبادت کوي او سبا لاړ شي د بُـــت عبادت وکړي، دا د نن ورځې عبادت يې هم د خدای عبادت نه دی.

وَلا أَنَـــا عَابِـــدٌ مَّا عَبَدتُّمْ. وَلا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ. او نه زه د هاغه څه عبادت کوونکی يم چې تاسـو يې عبادت کړی دی، يعنې زه بـــه هم په هيڅ بڼه او په هيڅ ډول شرايطو کې حاضر نشم چې د هاغه څه عبادت کوونکی شم چې تاسو يې عبادت کوئ. په دويم آيت کې وايي لا أَعْبُدُ (عبادت نـــه کوم) او د فعل په بڼه يې راوړی، خو دلته وايي وَلا أَنَــا عَابِدٌ يعنې زه هم په دې وضع او حال کې نه يم؛ په اصطلاح د حال وضعيت بيانوي. په بـــل تعبير، نه به داسې وکړم او نه زما شرايط، انـد او فکر دا اجازه راکوي چې ستاسو په څېر داسې وکړم.

د مَّا عَبَدتُّمْ جمله ماضي ده؛ يعنې په تيره کې هم ما ســتاســو معبود نه دی نمانځلی، او دا په څرګنده توګه پر دې دلالت کوي چې رسـول الله(ص) له خپل نبوت څخه مخکې هم بُت نمانځنه نه ده کړې.

وَلا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ. بيا هم پيغمبر(ص) هماغه خبره تکراروي. دا آيت دوه ځلې تکرار شــوی دی: دريم او پنځم آية. او دا د ډېرتر تأکيد او ټينګار لپاره دی. دوه ځلي ټينګار پر دې چې ما تاسو اوس داسې پيژندلي ياست چې حق لور ته د مخ کولو او دې لور ته د راتللو اهل نـــه ياسـت او په تاسـو کې دحق خبرې د منلو بڼه، ډګر، انګيزه او چمتووالی نشته، يا دا چمتووالی نه څرګندوئ.
پر دې بنا يو تر بله شخړه نلرو، موږ چې په کومه لار ځو تاسو يې نه منئ نو ....
په حقيقت کې دا دوه آيتونه د مخکينيو دوو آيتونو د مضمون تکرار دی چې پر هغه د ټينګار په موخه تکرار شوي دي، لکه د هاغه تکرار په څېر چې په نورو آيتونو کې هم راغلی دی:
«کَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ. ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ.» [تکاثر۳ (۱۰۲:۳) او۴] چې تاسو انګيرئ ډېر ژر به پوه شئ. بيا داسې نه دی چې تاسو انګيرئ ډېر ژر به پوه شئ. « فَقُتِلَ

(c) ketabton.com: The Digital Library


کَیْفَ قَدَّرَ. ثُمَّ قُتِلَ کَیْفَ قَدَّرَ.» [مدثر۱۹(۷۴:۱۹) او ۲۰] مرگ دې وي پر دوی څه ډول یې اندازه وکړه بیا مرگ دی وي پر دوی څه ډول یې اندازه وکړه.

د «وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ» او «وَلَا أَنَا عَابِدٌ» اسمیه جملې، د [لاتَعْبُدُون، لا اَعبُد] فعلي جملو پر ځای، چې په دویم او څلورم آیتونو کې راغلي دي، د عربي ژبې ادبیاتو له مخې په اند او عمل کې پر ټیکاووالي، تلپاتېتوب او دوام دلالت کوي. مقصد دا دی چې دا څرگندوي؛ هر دواړه لورې په خپلو اعتقادي دریځونو کې کلک او ټیکاو یو، مونږ دواړه لورې هر یو پر خپله خپله لار ځو او یو له بل سره د ملتیا موخه نه لرو. په«۵» آیة کې بیا ځلې د«۳» آیة د مطلب تکرارېدل هم پر دې، یو بل ټینگار دی چې وایي په تاسو کې په اوسنیو شرایطو کې د توحید د منلو لپاره اړین ډگر او چمتووالی نشته.

د یو خدای نمانځنه [«په عبادت کې توحید»] چې له خدای تعالی څخه په بشپړه توگه فرمان وړنه او هغه ته مخ کونه او له هغه پرته د نورو له بنده گۍ آزادېدنه ده، چې د فکري توحید تحقق او رښتینتوب او د مؤحد او مشرک تر منځ بېلوونکی او ممیز فصل دی او باید له فکر او دنني ایمانه په عباداتو کې وبرېښي او څرگند شي او همدا راز د ژوندانه په آدابو او قوانینو او ټولنیزو اړیکو کې منعکس او ښکاره شي. که د یو خدای نمانځنه په دې پراخه او حقیقي معنا نه وي نو د شرک او توحید او د اسلام او جاهلیت تر منځ توپیر او ټاکلی برید څه شیز دی؟ آیا د ضمیر او وجدان په پوړ او مرتبه کې د توحید لپاره کوم ټاکلی برید شته؟ له دې سره سره چې ډېری خلک په ښکاره توگه موحد ښکاري خو د شرک په راز راز ډولونو اخته دي، او په ښکاره مشرکان چې د فطرت او وجدان په برید کې مؤحدین دي. د مکې مشرکین هم د خدای تعالی له ذات څخه منکر نه ول خو له هاغو حقیقتونو سره آشنا نه ول چې خدای تعالی خپل ځان پرې ستایلی: اَحَد: یگانه، یو گونی، یو، یوازې یو خدای .... صَمَد: تکیه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځای او ملاتړ... ـــ هغوی د خدای لپاره مل، ساري او ګډونوال ګومارل، ځرنګه چې بـــــايد وي او ښـــايي، د خدای تعالی مقام يې نه پېژاند او د خدای تعالی عبادت يې لکه څنګه چې ښـايي نـــــه کوه. بُتان يې ورسره شريکول، بُتان يې د خپلو صالحو پلرونو او نيکونو د يادښت رمز او يا د پرښـتو تمثيل ګاڼه ... هغوی ګومان کاوه چې پرښتې د خدای لوڼه دي، او د حق سبحانه تعالی او جنّيانو تر منځ خپلوي او خپلولي ده. چې کله کله به يې دا رمز او تمثيل لـه ياده ايسته او پخپله د همدغو توږل شوو معبودانو نمانځنه بـــــه يې کوله. او په دواړو حالتونو کې به يې دا ټول نومونې ځيزونه واسـطه او وسـيله ګڼل چې ددوی په توسـه خپل ځانونه خدای تعالی ته نژدې او مقرب کړي.

لکه څنګه چې قرآن مجيد د زمر په سورة کې ددوی خبره روايت کوي:

«... مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَـــــا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى...» [زمر۳(۳۹:۳)]. «...موږ د هغوی نمانځنه نه کوو مګر لـه دې کبله چې موږ خدای ته نژدې کړي...». قرآن ددوی لـــــه ژبې نقل کوي چې هغوی عقيده درلوده خدای تعالی آسـمانونه او ځمکه پنځولي دي. او لمر او سپوږمۍ يې د انسان د استفادې وړ وګرځول او اوبه يې لـــــه آسمانه اورولي دي؛ د بېلګې په توګه د عنکبوت په سورة کې راغلي دي: «وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ...» [عنکبوت ٦١(٢٩:٦١)]. «او که له هغوی [= له مشـــــرکينو] وپوښتې: اسمانونه [= د ستورو نړۍ] او ځمکه چا پنځولي او لمر او سپوږمۍ چا ښکېل (او رام) [= ستاسو او د نورو موجوداتو خدمتګاران] کړي دي، هرومرو به وايي: الله!...». «وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ نَزَّلَ مِنَ السَّـــمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُـــــولُنَّ اللَّهُ ...» [عنکبوت٦٣(٢٩:٦٣)]. «او که له هغوی وپوښتې چې څوک له آسمانه [برکتناک] اورښـــت لېږي، چې ځمکه پرې د هغه له مرګ [= ژمي يا وچکالۍ] وروســـته ژونـــدۍ کوي؟ هرومرو به وايي: الله». په ځانګړې توګه د قريشو مشـــرکين چې ځانونه يې د ابراهيم د آئين پليونـان ګڼل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


که مورږ پاملرنه وکړو په عمومي توګه د دنيا ټولو مشـــــرکينو همداسې کول او لا کوي؛ چې دوی په بنسټيزه توګه لـــه الله منکر نه ول خو پر خپلو معبوانو، د الله درشل ته د رسېدلو لپاره د وسيلې په توګه عقيده لري او په دې اړه د مشـــرکينو عقيدې راز راز او ډول ډول دي؛ هغه که ملائکې وي، جن يا پيريان وي، انبياء او اولياء وي، امامان او ملايان وي، پيران او بزرګان وي، د ژونـديو يا مړو انسانانو ارواح وي، يا لمر، ســپوږمی، ســتوري، ځناور، ونې، غرونه، دريابونه، ځمکه او آسمان وي، بــت، يا خيالي ديوي او ديوتا [The gods, The goddess] وي او که په نورو بڼو وي. دلته دا پوښتنه مطرح کېدی شي چې د عربو مشـــرکينو هم الله منه او هم د نړۍ ټولو مشـــــرکينو له پخوا زمانو راهيسې تر اوســه د الله له شـتونه انکار نـــه دی کړی. او اهل کتاب خو د اصـل معبود په توګه همدا الله مني، نو د ټولو خلکو د ټولو معبودانو لـــه عبادته، پرته لـــه کوم توپيره د برائت اعلان څنګه صــحيح کېدی شي؟ ځواب يې دادی چې که د الله عبادت د نورو معبودانو په ډلـــه کې له شاملولو سره وشي نو هاغه څوک چې پر توحيد ايمان لري هرو هرو لــه دې عبادته خپل برائت څرګندوي ځکه چې د هغه په نزد الله د معبودانو له مجموعې څخه يو مـعبود نه دی بلکې هغه يوازينی يو معبود دی، او دې مجموعې او ډلې ته په ګډوله توګه عبادت په هيڅ ډول د الله عبادت نــه دی اګر چې په دې کې د الله عبادت هم شامل وي.

په قرآن مجيد کې يې دا خبره په څرګنده توګه په ډاګه کړې ده چې د الله د عبادت تر څنګ د بـل چا يا څيز د عبادت شک يا ګومان قدرې هم نــه وي، او بايد انسان خپله بنده ګي يوازې يو الله ته خالصه کړي «وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الـدِّينَ حُنَفَاءَ...» [بيّنه ٥ (٩٨:٥)]. په داسې حال کې چې دوی ته له دې پرته امر نه وو شــوی، چې دوی به [يوازې] د الله بنده ګي کوي په داســې ډول چې دين يې په حق ګرايانه توګه هغه ته [لـــــه شرک او ځان غوښــتنو څخه] خالص کړی وي، ....» همدا راز په ژبـه اقرار تر هاغه بريده منلی او توپيروونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی چې لــه عمل سره رسمي، جوت او په زغرده مخالفت ونلري. نو څرنګه چې د شرک او توحیـد، جـاهلیـت او اســـلام ترمنځ توپیر او بېلوونکی پوازې د یو خدای عبادت دی، د اسلام رسول^(ص)^ مأمور شو چې ښکاره او په زغرده په بیا بیا په ټینګار لـــــه دې آیتونو سره هغه اعلام کړي چې په دې توګه د هغوی پر مخ چې په کفر کې د پاتې کېدو هوډ یې کړی دی د هر ډول ســـازښـــت او جوړ جاړي لار وتړي او هیلې یې پرې شي او د کفر او اســـلام برید څرګند او وټاکل شي او د هغوی لــه بلنې او انداره سترګې پټې کړي او توحید او اسلام ته د بلنې لپاره هاغو کســـانو ته پاملرنه وکړي چې کفر ته د منلو ادا ډول هوډ نلري او د ایمان منلو ته چمتو اوسي. د کافرینو په اړه قرآن وایي: «إِنَّ الَّـــذِينَ كَفَرُوا سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنْذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ» [بقره٦(٢:٦)]. «[خو] هاغو کســـانو چې [د حقیقتونو په نسبت] کفر وکړ، د هغوی لپاره بې توپیره ده، چې [د کړنو لــه پایلو] یې ووېروې یا یې و نه وېروې؛ کورټ ایمان نه راوړي». دوی تـــــه که هر څومره وویل شي د حق وینا اوریدو ته چمتووالی نلري د قرآن د وینا پر بنســـټ «لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلَى أَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ » [یس ۷(۳٦:۷)] «په ډیریو لــه هغوی کې حکم تحقق موندلی دی، او ایمان به رانوړي». نو ځکه الله تعالی خپل اســتازي رســـول اکرم^(ص)^ ته فرمایي؛ دوی ته ووایه چې: لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِي دِينِ. «ســـتاســـو دین ســـتاســـو لپاره او زما دین هم زما لپاره.» یو تر بله جګړه نلرو. تاســـو چې زما حق خبره نـه منئ، نه ښایي تمه ولرئ چې زه راشم ستاسو بُـت نمانځونکي افکار او اندونه ومنم. زه ددې کار اهل نه یم. نو، تاســـو په خپله لار لاړ شـئ، او زه هم په خپله لار ځم. «.. لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ ...» [ماته زما کړنې او تاســـو ته ســـتاســـو کړنې] که نه غواړئ ډېر ښه، له یو بل سره دعوا هم نلرو. چې دا هماغه په انتخاب کې آزادي ده. ته د انتخاب حق لرې، واک او اختیار لرې او زه یې هم لرم.

یعنې ای کافرانو! زموږ او ستاسو هم معبود بېل دی او هم عبادتونـه مو یو تر بله توپیر لري. « وَ إِنْ كَذَّبُوكَ فَقُلْ لِي عَمَلِي وَ لَكُمْ عَمَلُكُمْ أَنْتُمْ بَرِيئُونَ مِمَّا أَعْمَلُ وَ

(c) ketabton.com: The Digital Library


أَنَـــا بَرِيءٌ مِمَّا تَعْمَلُونَ» [يونس ۴۱ (۱۰:۴۱)] «او که [د نورو پيغمبرانو په خبر] تا دروغجن وګڼي، نو ووايه: زما کړني ما پورې او ستاسو کړني تاسو پورې اړه لري [= هر يو د خپل کار پايلو ته رسېږو]. تاسو له هاغه څه چې زه يې کوم بري ياست [= له پازوالۍ يې خلاص او مسئول نه ياســت] او زه هم له هاغه څه چې تاســو يې کوئ مبرا يم». «فَإِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ إِنِّي بَرِيءٌ مِمَّا تَعْمَلُونَ» [شعراء ۲۱۶ (۲۶:۲۱۶)] او که [ستا له خبرتيا او ګوابنې وروسته] يې سرغړاوی وکړ، ووايه: زه له هاغه څه چې تاسو يې کوئ بري [او بيزار] يم.

د « لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ » جمله، د عقيدې او ايمان د آزادۍ منشــور دی چې مکرم رسول(ص) ته د «قُل» لــه فرمان سره، کافرانو ته ابلاغ شوی دی. دا څرګنده ده چې مطلب د کفر او ايمان د پـــايلې ورته والی او د بندګانو د انتخاب او غوراوي په نحوه او طريقه کې د خدای تعالی بې توپيروالی نــه دی، موخه يې انسان ته د عمل ډګر او د ټاکنې اختيار ورکول دي چې هر څوک په آزادانـــه توګه خپل برخليـک وټاکي. دين يوه قلبي او د زړه پورې اړوند چاره ده او اکراه او اجبار پکې لار نلري. نو نه يوازې بې ديني يا د دين تغيرول دنيايي سزا او کيفر نلري، بلکې مذهبي اختلافونه او جنګونه، مخکې لـــه مخکې محکوم او غندلي دي. لکه څنګه چې په قرآن کې بل ځای فرمايي: «لا اِكْراه فِي الدِّينِ...» «په دين [منلو] کې اکراه [او کوم جبر] نشته ...». [بقره۲۵۶ (۲:۲۵۶)]

د دين اصلي معنا، د نيکو او بدو عملونو جزا او کيفر دی، بيا ورپسې د هر هيواد نظامونو، مقرراتو او قوانينو تــه ويل کيږي، چې وګړي او ښارمندان د هغوی پر بنسټ تر نياو لاندې نيول کيږي. د قرآن په اصطلاح کې، «دين الملک» د هيواد اساسي قــانون ته ويل کيږي، چې پاچاهان او واکمنان د هغوی جاري کوونکي ول. «فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَاءِ أَخِيهِ ثُمَّ اسْــتَخْرَجَهَا مِنْ وِعَاءِ أَخِيهِ كَذَلِكَ كِدْنَـــا لِيُوسُــفَ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ الْمَلِكِ، ... »[يوســف۷۶ (۱۲:۷۶)]. «نو [يوســف] د خپل ورور [بنيامين] له پېټي څخه مخکې، د نورو پېټو په لټولو پيل

(c) ketabton.com: The Digital Library


وکړ، چې [په پای کې] کټوری یې د خپل ورور له پېټي راوایست. په دې توګه مو یوسف ته چاره او تدبیر وروښود. [ځکه] هغه [د مصـــر] د پاچا د قانون له مخې خپل ورور نشــو نیولی [نشــو ســتنولی]،...». د ښــوونځیو او پوهنتونونو ښــوونیز نظام هم چې د هغې پر بنسټ د هر زده کړیال پــــاداش [چارلیک]، برخلیک او راتلونکی ټاکل کېږي، چې دا هم د دین د معنا د پوهیدو لپاره یوه ساده بېلګه ده.

د «۱۰۲» موردونو لـــه منځه چې د دین له کلیمې مشتقونه او راوتلي وییونه په قرآن کې راغلي دي، د دین معنا د قانون په توګه لـــه دې پرته د «دِينِ اللهِ» له اضــافې سره په دوو نورو آیتونو راغلې ده:– «... وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ ...» [نور۲(۲۴:۲)] «...او د الله تعالی د قانون په [اجراء] کې، د [غیر اصــولي] احســاساتو او عواطفو تر اغیز لانـــــدې مه کیږئ،...» «أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ..» [آل عمران۸۳(۳:۸۳)]. «آیا دوی [له دې میثاق وروســته] د الله له دین پرته [بله غوره موخه] غواړي؟ په داســې حال کې هر هغه څه [لـــه پرښــتو یا ژوندیو موجوداتو یا هرڅه] چې په آســمانونو او ځمکه کې دي، هرومرو [خواه نخواه] هغه ته تســلیم دي ...». د خدای تعالی دین همدا عمومي او خصـــوصي قوانین او نظامونه دي چې لـه ذرې تر لویو او لـه ځمکې تر کهکشـــانونو ټول د هغه په بند کې دي چې له خپل کړ او اړولکړنو [فعل او انفعالاتو] سره د کمال په لارلیک [مسیر] کې مخکې وړل کېږي [و إِلَيْهِ يُرْجَعُونَ].

نو د خدای دین د هغه فرمانونو ته تســلیمیدل دي «إِنَّ الـــــدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ...» [آل عمران ۱۹(۳:۱۹)] چې حق دی «... وَدِينِ الْحَقِّ...» [توبــه۳۳(۹:۳۳)] او باید له شرکه خالــص وي « أَلَا لِلَّهِ الــدِّينُ الْخَالِصُ ... » [زمر۳(۳۹:۳)]، «وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْـرِكِينَ.» [یونس۱۰۵(۱۰:۱۰۵)]« او دا [فرمان] چې خپل مخ [= د ژونـدانه موخه او مخکړنه دې] په حقپالې توګه [= له شرکه خالص او نږه] د [توحیدي] دین لپاره برابر کړه او هیڅکله لـــه مشــــــرکانو مه اوسه».

(c) ketabton.com: The Digital Library


«...حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الـدِّينُ لِلَّـهِ..» [بقره١٩٣(٢:١٣٩)] او «... حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الـدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ...» [انفال٣٩(٨:٣٩)]. «... تر هاغې چې د فتنې [= د دين د آزادۍ او امنيت د مخنيوي] تغر ټول شي او دين په يو مخيزه توګه د الله لپاره وي...»

همدا راز د سورت په پای کې د « لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ » ټينګار، لـه عبادت سره د دين ډېر نژدې او تنګاتنګ تړاو څرګندوي. د کافرانو عبادت د هغوی د دين مطابق، يعنې د خدای نمانځنې آيين يې په شرک او د بُتانو په شفاعت کړې وو چې په لاندينيو آيتونو کې يې په څرګنده توګه وينو:

«...وَالَّـذِينَ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِـهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَـا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى ...» [زمر٣(٣٩:٣)]، «.. او هغو کسانو چې [خپلو حاجتونو ته د رسېدو لپاره] لـه الله پرته اولياء [پالندويان] نيولي دي، [بـاطله ادعا يې داده چې] موږ دا نه نمانځو، مګر له دې کبله [هغوی ته متوسل کېږو] چې موږ خدای ته [د حاجتونو په وړانـدې کولو کې] نږدې کړي..»، «.. أَمِ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ شُفَعَاءَ..» [زمر٤٣(٣٩:٤٣)]، «آيا لـه الله پرته شفيعان [او سپارښتګر] نيسي!؟...». «...وَيَقُولُونَ هَؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَـا عِنْدَ اللَّهِ...» [يونس١٨(١٠:١٨)]، او وايي: دا [بُتان] د خدای په نزد زموږ شفيعان [او سپارښتګر] دي!. «... لَيْسَ لَهَا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ...» [انعام٧٠(٦:٧٠)]. او «... لَيْسَ لَهُمْ مِنْ دُونِـهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ...» [انعام ٥١(٦:٥١)] پرته له الله د هغوی لپاره هيڅ يار او مرستندوی او سپارښتګر نشته. «... وَمَا نَرَى مَعَكُمْ شُفَعَاءَكُمُ الَّـذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَاءُ...» [انعام٩٤(٦:٩٤)]. «... او [مګر نن ورځ] هاغه شفيعان چې تاسو په خپل [سرليک] کې شريکان انګېرل، له تاسو سره نه وينو ...».

او د مؤمنينو عبادت د توحيدي دين او آيين پر بنسټ ربّ العالمين ته په تسليم کې دی. په قرآن کې الله تعالی پيغمبر(ص) تـه فرمان ورکوي چې دوی تـه ووايه: «قُلْ أَفَغَيْرَ الـــلَّهِ تَأْمُرُونِّي أَعْبُدُ أَيُّهَا الْجَاهِلُونَ» [زمر٦٤(٣٩:٦٤)] دوی تـــه ووايه: «ای جاهلانو! آيا ته ماته وايي چې له الله پرته د بل چا عبادت وکړم».

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو د کافرون سورة په بنسټيزه توگه په دوو لارو کې لـه برېښنده، قاطع او روښانه بريد ټاکني سره، لـه کافرانو سره د مؤمنينو هر ډول ملتيا او سازشکارانه مصلحت پالنه مردوده او نـاسمه گڼي او پيغمبر ته په ټينگار فرمان ورکوي چې دا ډول دريځ په ځرگنده توگه اعلام کړي. لـه دې سره مل د هغوی اختيار او آزادي هم په پام کې لري او د لارې او روش (دين) په انتخاب کې هغوی خپل واک ته پرېږدي: «لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ».

**د تعبد بريدونه:** داسې برېښـي چې د «عبادت» موضوع چې لغوي مشتقات يې د کافرون په سورة کې له لنډون سره سره ۸ ځلې تکرار شوي دي، او د سورة اصـلي چورليز دی. او په قرآن کې بې مخيني او بې سـاري دی؛ نو «عبادت» [نمانځنه]، ددې سورت بنسټيزه کليمه گڼل کېږي. ځرنگه چې د عبادت موضوع په ټول قرآن کې په ځانگړې توگه په دې سـورت کې ارزښـتناکه او بنسـټيزه موضوع ده نو د سورة د ځيرتر پيغام د بهتر پوهېدو لپاره د «عبادت» پر موضوع نور ډېر تمرکز کوو، او ښايي په دې اړه ډېر غور او تدبّر وکړو:

نو کومه نکته چې تل بـايد جدي پاملرنه ورته وکړو ددې سورة اصلي چورليز [«عبادت»] دی. په دې سورة کې لـه هر دريو کليمو څخه يوه يې د «عبادت» کليمه راوړې ده. د قرآن په هيڅ ځای کې تاسو دا ډول ټينگار او تمرکز نه وينئ. نو، بايد پوه شو چې لـه «عبادت» څخه موخه څه ده چې څو ځلې يې تکراروي:
لا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ. وَلا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ......

ځرنگه چې د قرآن په پښتو ترجمو کې «عبادت»، «نمانځنه» او «پرسـتش» ترجمه کوي: کافرانو ته ووايه زه نــه نمانځم هاغه څه چې تاسو يې نمانځئ او نه تاسو نمانځونکي ياست د هاغه څه چې زه يې نمانځم؛ نو لــه دې ترجمې څخه څه پوهــېدلی شـو؟ دا خو ځرگنده ده چې پيغمبر(ص) بُت نــه نمانځه، نو ددې موضوع پوهېدل زموږ د اوس مهال لپاره څه په درد لگېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


پيغمبر (ص) کـافرانو ته ويل زه بُـت نه نمانځم او تاسو هم هاغه څه چې زه نمانځم نه نمانځئ، نو په مخه مو ښــه، هر څوک دې پخپله لار ځي. ښــه نو موږ چې وسمهال دا آيتونه او ويناوې لولو څه پيغام ترې بايد واخلو.

د عبادت پښتو ترجمه [«نمانځنه»، نمونځ] او هاغه څه چې په دې ترجمه کې لـه قرآن او عربي فرهنګه زموږ فرهنګ ته لېږدول شـوي دي، داسـې يو حالت دی چې انسان يې د خپل پنځوونکي پالونکي څښتن پر وړانـدې چې د هغه تر ټولو لوړ او ســتر ارمان دی څرګندوي. په داســې حال کې چې په عربي ژبه کې «عبادت»، د هاغو چارو پر وړاندې چې د انسان لـه وجوده خارج وي، د هغه له تسليم، تبعيت، زړه بايلنې او ځان بـايلنې يو حالت دی چې کېدی شي خدای، پربـتې، انسانان، څيزونه او نورې چارې وي. د بېلګې په توګه کله چې په قرآن کې ويل کېږي «لا تعبدوا الشــيطان»[مريم ۴۴(۱۹:۴۴)] يا «أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَنْ لَا تَعْبُدُوا الشَّــيْطَانَ....»؟ [يس ٦٠(٣٦:٦٠)] نو کوم کســان چې عبادت «نمانځنه» يا «پرســتش» معنا کوي، آيا چا تر اوســه شــيطان نمانځلی دی چې خدای تعالی ګواښــنه کړې ده: «ای بنيادمه مګر تاســو سره مې عهد نه وو تړلی چې د شـيطان عبادت مه کوئ»، له دې څخه يې مقصـد دا نه دی چې شـيطان مه نمانځئ، ځکه چې شيطان خو د انسانــــانو منفور دی او هيڅوک هغه خپل معشـوق او معبود نه ګڼي! بلکې مقصـد يې دادی چې هغه ته مه «تسـليم» کېږئ [مه تسـليمېږئ] او د هغه لـــه وسـوسـو «پليوني» مه کوئ او د هغه پر ګاڼلو او سينګارَونو، برېښ او ځلَونو زړه او ځان مه بـايلئ.

موږ چې هره ورځ په خپلو نمونځونو کې لږ تر لږه اوولس ځلې «إِياكَ نَعْبُدُ وإِياكَ نَسْتَعِينُ» وايو، که د خدای عبادت د هغه نمانځنه وي، نو، مګر موږ کوم بـل څيز د هغه پر ځای نمانځو؟ څرګنده ده چې نـه؛ نو، بيا دا څه دي چې په نمانځه کې يې دومره ذکر کړو او په ځلونو يې تکرار کړو چې: «إِياكَ نَعْبُدُ وإِياكَ نَســتَعِينُ»؟ خــــدايا موږ يوازې ستا نمانځنه کوو! ښـه، که خدای له موږ پوښتنه وکړي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


مگر تر اوسه مو د کوم بـــل چا نمانځنه کوله، څه ځواب ورکوو؟ مگر نه وايو چې مونږ غير لــه تــا د کوم بل کس يا بل څيز نمانځنه نــه ده کړې؟ نو، ولې تر دې بريده دا خبره تکراروو؟ که خدای تعالی له مونږ وپـــوښتي ته او پلار او مور دې او کورنۍ دې مگر مخکې لـــه دې خدای نمانځونکي نه واست، يا مگر اوس نه ياسـت چې پرلـــه پسې تکراروئ مونږ يوازې تا نمانځو، څه ځواب ورکوو؟ ولې دومره ډېر دا تکرار کوو؟ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ؟

خو مونږ چې پـه خپلو ورځينيو نمونځونو کې وايو «اياک نعبد» دا جوتـه او څرگنده ده چې زمونږ مقصد خو د بـــل خدای نمانځنه نه ده، خو ډېر لږ کسان شايي لـــه ځانه وپوښتي چې ولې دا عبارت پرلـــه پسې ځان ته دومره تلقين کوي، مگر، آيا اتکل دادی چې کوم بـل خدای به هم وي ـ العياذ بالله ـ چې هغه هم نمانځي چې وايي «يوازې تاته عبادت کوو»! څرگنده ده چې لـــه الله پرته د تسليم حالت د بل هيڅ څيز لپاره نلرو.

نو پر دې ترتيب د «عبادت» په کليمه کې د اطاعت او تسليم مفهوم شتون لري. نو که څوک داســې يو حالت سربېره پر خدای [يا د خدای پر ځای] د هغه مخلوق ته پيدا کړي د همدې مخلوق عبادت يې کړی دی.

د حضرت پيغمبر(ص) پـه وينـا: «هـر څـوک چـې د منبـت پـه حالـت کـې کـوم وينـاوال تـه غـوږ ونيســي پـه حقيقـت کـې د هغـه عبـادت يـې کـړی دی. نـو کـه د هغـه خـبره لـــه خـدای عزّوجـلّ څخـه وي (پـه غيـر مسـتقيم ډول) د خـدای عبـادت يـې کـړی دی او کـه لـــه ابليســه وي د ابلـيس عبـادت يـې کـړی دی». لـــه دې توضـيح سره څرگنـدېږي چــې ولــې خـــدای تعـــالی فرمـان ورکـړی د شـيطان عبـادت مـه کـوئ او ولـې بايـد پرلـه پسـې ځانتـه تلقين کړو چې: «اياک نعبد و اياک نستعين».

له دې څرگندېږي چې د: «مونږ د خدای عبادت کوو» معنا دا نـــه ده چې مونږ خدای نمانځو؛ معنا يې داده چې مونږ د شيطان په وړاندې د منبت او تسليم او

(c) ketabton.com: The Digital Library


درنښـت او غاړه ایښـوونې، ژمنتیا او ایـــل کېدو حالت نلرو او غواړو دا حالت یوازې د خدای په وړاندې ولرو. دا د عبادت معنا داده.

نو له دې څرګندېږي چې «عبادت» نمانځنه نـه ده. ډېرى له نورو ژبو وييونه کله چې پښـتو ته اړول کېږي معنا يې سـمه نه راځي او د يوې کليمې په توسـه له معادل او انـډول ايښوونې سره نه شو کولی په معنا يې و پوهېږو. و مو ويل چې «عبادت» په واقعيت کې يو حالت دی لـــه تسليم او تمکين، زړه بايلنې او ايل کېدنې څخـه. د مرحوم شريعتي مشـهوره خبره ده چې«عبـادت» يعنې واټ جوړونه [جاده سـازي]. په عربي ژبه کې «طريق المُعَبَّد» يا «مُعَبَّد» - جاده، واټ، سړک، يعنې هاغه لار چې «عَبْد» شوې ده؛ هغه جاده چې اسفالـټ کړې يې ده او ايل شـوې ده؛ يعنې اوس نو دا جاده بيخي صـافه او روانــــه ده او ګړندی موټر پرې په هوسـا توګه کولی شي حرکت وکړي. دا واټ مخکې ناسـم وو او لوړې ژورې يې درلودې او نشـو کېدی موټر پرې سـم تګ راتګ وکړي، خو اوس عبد او ايل شـوی دی او موټر يې پر مخ په هوسا او آسانه توګه کېدی شي تېروبېر شي. نو «تَبْعيدُ الطُّرُق» يعنې لاره عبد کول، د لارې ايسـتنه او واټ جوړونه. که په مکه او مدينه کې چا ليدلي وي د سـړک جوړولو په ماشـينونو او لاريو او بولډوزرونو يې ليکلي وي «عابد». نو «عابـــد» يعنې؛ دا د لارې جوړولو ماشين دی او سړک همواروي. نو، «عبادت» نمانځنه نـــه ده، هموارول دي؛ د ګاډېو او زنبيلونو ډګول او اضافي مواد ايسته غورځول او د لارې صافول دي.

موږ د خـــدای عبادت کوو يعنې زموږ وجود بايد د هغه د فرمانونو د روانېدلو او اجراء کېدلو لپاره يوه همواره جاده وي. که خدای تعالی په قرآن کې فرمـايلي دي انفاق وکړئ خو وينو چې اصلاً زموږ په وجود کې دا ډول فرمان نـــه جاري کېږي! نو له دې معلومېږي چې زموږ نفس لا تر اوسـه هموار نه دی، په دې لار کې لګښت ورته ستونزمن دی، عملي کولی يې نشـي. نو څه بايد وکړل شي چې د هغه فرمان پر ما روان او هموار شي؟ «عبادت» همدې ته ويل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چې د پالونکي څښتن فرمان ورل پر ما جاري شول او پر ټول ځان او د زړه له تله مې هغه ومنه، د هغه عبادت کوونکی، شوی یم؛ لکه د اسفنج په څېر چې اوبه په آسانۍ جذبوي، خو د ترپال ټوټه هغه په سختۍ جذبوي او نايلون چې بيخي اوبه نه جذبوي. د انسان وجود بايد هوسا او په آسانه توګه وکولی شي د حق حکم جذب کړي. کله چې د انسان ځان جاذب شو، که خدای تعالی ووايي ځان دې زما په لار کې ورکړه، هوسا او په آسانۍ يې ورکوي.

دا چې په قرآن کې وايي: «وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ»، [بقره۲۰۷(۲:۲۰۷)]. يعنې ځينو له خلکو خپل ځانونه بولۍ او خرڅلاو ته ايښي او هغه ته يې پلوري چې دده د ځان پيرېدونکی دی. يعنې خپل ځان د خدای او د هغه د رضايت جلبولو لپاره خرڅوي. دوی د خدای عاشقان دي او چمتو دي خپل ځانونه د معشوق لپاره قربان کړي. عاشق، «زه» نلري او ټوله هستي يې «هغه» دی، معشوق دی. او ورپسې: وَاللَّهُ رَؤُوفٌ بِالْعِبَادِ. او الله د خپلو بندګانو په اړه ډېر مهربان او رئوف دی.

د خدای او د بنده اړيکه کېدی شي تر دې بريده صميمي او عاشقانه شي چې بنده، لکه د پتنګ په څېر د شمعې ګردچاپېره خپل ځان د خدای په لار کې فدا کوي. البته قرآن د رياکارو او ځانښودو بندګانو وصف او ستاينه هم راوړې ده: «وَمِنَ النَّاسِ مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا» ځېنې له خلکو هم دي، چې د هغوی خبرې تا هېښتيا ته اړ باسي، چې څه عجيبې ښکلې او خوږمره فصيحې او روانې خبرې کوي! «...وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ...». او هم پر هاغه څه چې په زړه کې يې لري خدای تعالی شاهد نيسي او تل له خدای او پيغمبره پانګونه کوي او قسم خوري، په داسې حال کې چې: وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ. [بقره۲۰۴(۲:۲۰۴)]. د ټولنې بدترين دښمنان همدوی دي. ولې؟ ددې لپاره چې: وَإِذَا تَوَلَّى، کله چې حکومت او ځواک ته ورسېږي، سَعَى فِي الْأَرْضِ

(c) ketabton.com: The Digital Library


لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْـــحَرْثَ وَالنَّسْلَ ... د ولايت او حکومت نتيجه او پايله يې د کښت او نسل نابودي ده؛ هم د ټولنې نسل او هم توليدات له منځه وړي. وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ. او الله تعالی فساد نه خوښوي. [بقره ۲۰۵(۲:۲۰۵)].

د تـاريخ پـه اوږدو کـې تـل، يـو شـمېر کسـان ول او دي چـې پرلـه پسـې، پـه سـنجول شـوې توګـه لـه خـدای او رسـوله خـبره کـوي، خـو دا يـوازې ددې لپـاره چـې ځـواک تـه ورسـېږي. کلـه چـې د خلکـو د دينـي احساسـاتو پـر څپـو سـپاره شـول او ځـواک تـه ورسـېدل، د خلکـو روزګـار تباه کـوي او ځواک ته د رسېدلو پـايله او نتيجه يې د «حرث» او «نسل» هلاکت دی.
د دې ډلې پر خلاف بله ډلـه هغوی دي چې نـه يوازې دا چې نـه غواړي کوم «مقام»، پوړ او ځای ته ورســېږي، بلکې پرعکس، چمتو دي چې خپل ځانونه د حق په لاره کې قرباني کړي. چې همدا د «عبادت» مفهوم دی.
انســان څنګه کولی شي د خدای عبد شي؟ قرآن فرمايي: أَن لَّا تَعْبُدُوا الشَّــيطَانَ، [يس۶۰(۳۶:۶۰)]. د ابليس عبادت مکوئ. د ابليس عبادت يعنې څه؟ په دې اړه هم د پښـتو په ترجمو کې لولو چې شـيطان مه نمانځئ. آيا دا ژباړونکي له ځانه نـــه پوښتي چې آخر کوم څوک دی چې شيطان نمانځي؟ که عبادت «نمانځنه» او «پرســتش» ترجمه کړو نو بـــايد ووايو ددې آيت مخاطبين موږ نه يو، چون موږ خو شيطان پرستان نه يو.

خو لکه څنګه چې مو ووېل، که عبادت تسليمېدل او ايـــل کېدل معنا کړو، هغه مهال مطلب توپير کوي. يعنې شيطان وسوسه کوي، وعده ورکوي، خو تاسو د هغه فريب ونخورئ او عبادت يې ونکړئ؛ خپل وجود د هغه لپاره هموار نکړئ: لَّا تَعْبُدُوا الشَّـيطَانَ، داسې مه اوسئ هر څيز چې هغه ووايي او جذب يې کړئ؛ د شـيطان لپاره مه اسـفنج کېږئ چې له هر تحريـک او وسـوسـې او وعدې سره يې، هر څه چې ووېل ومنئ. مقاومت وکړئ او د هغه پر وړاندې لکه د سّـــد سکندر په څېر اوسئ. د خپل زړه دننه ورته لار مه ورکوئ. په مخکې ورته دېوال

(c) ketabton.com: The Digital Library


وکاږئ. او په عوض کې، خپل زړه او وجود د حق د فرمانونو منلو ته چمتو او هموار کړئ. د همدې مسئلې د اهميّت لـــه کبله دی چې په دې سورة کې د «عبادت» کليمه تر دې کچې تکرار شوې ده.

دا څرګنده ده چې د خدای تعالی ذات، نــــه زموږ په وجود کې، او نه د هيڅ موجود په وجود کې حُلُول کوي. مقصـد دا چې د هغه صـفتونه بايد په موږ کې وځلېږي او انسان د الهي صفتونو ښکارندوی اوسي. يعنې که خدای ښونکی او تېرېـــدونکی دی، نو موږ هم بايد وکولی شو وښو. موږ هم بايد وکولی شو عفو وکړو؛ که هغه حليم دی، موږ هم د نورو د چلن په ناسميو کې بايد حلم، صبر او زغم څرګند کړو، که هغه «عزيز» دی، موږ هم بايد د نفس عزت او مناعت او تېکاووالی ولرو. که خدای «ودود» دی او مؤدت لري، نو موږ هم بــايد د وداد او دوســتۍ اهل اوســو. که خدای تعالی «ذوالجلال و الاکرام» دی، نو موږ هم بـايد کريم اوسو. نو، يوازې الهي صفتونه دي چې بايد په تدريج زموږ په وجود کې تحقق ومومي، زموږ وجود بايد د الهي صـفتونو د جذب لپاره تږی او ليوال وي، نه د شيطاني صفتونو لپاره. دا ده د «إِياكَ نَعْبُدُ وإِياكَ نَسْتَعِينُ» معنا.

ځېنو کسانو هم عبادت «بنده گي» ترجمه کړی دی، سره ددې چې دا ژبــاړه تر يو بريده د عبادت لــــه معنا څخه يو څه لېرېدوې، خو بشپړه، جامع او مانع نه ده او د مورد پر حســاب توضــيح ته اړتيا لري. که د «بنده گی» په کليمه کې، د خدای تعالی خالق والی او د بندګانو مخلوق والی په پام کې وي، مشــرکينو په دې کې چې خدای د هغوی خالق او رازق دی کوم شک نــه درلود په دې اړه مو مخکې آيتونو ته نغوته کړې د موضــوع لا ټينګار لپاره دې لاندينيو آيتونو ته هم مراجعه وشي: «وَلَـــئِنْ سَـأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّـمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ» او که له هغوی پوښــتنه وکړې چې آســمانونه او ځمکه چا پنځولي دي؟ هرومرو به وايي: هماغه الله پنځولي چې عليم [ډېر پوه] اَبرځواکمن دی! [زخرف۹(۴۳:۹)]، او «وَلَئِنْ سَـــأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ...» او که له دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


[=مشــــرکینو] وپوښــتې: دوی چا پنځولي دي؟ هرومرو به وايي الله ... [زخرف۸۷(۴۳:۸۷)]. «قُلْ مَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّـماءِ وَالْأَرْضِ أَمَّنْ يَمْلِكُ السَّـمْعَ وَالْأَبْصَـارَ وَمَنْ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ فَسَيَقُولُونَ اللَّهُ...» ووايه: څوک تاسو ته لـــه آسمان او ځمکې روزي درکوي؟ يا د اورېدو او ليدو پر حسونو څوک واکمن دي [چې د هغه د نظامونو او مشیّت سره سم عمل کوي] ؟ او څوک دی چې ژوندی [موجود] له مړو [او بېځانه توکو] او مړه [او بېځانه توکي] له ژونديو راوباسي؟ او څوک دی چې د [نړۍ] د چارو تدبير کوي؟ سمدلاسه به ووايي: الله!... [يونس۳۱(۱۰:۳۱)]، «وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ...» او که لـــه هغوی وپوښــتې: چا آسـمانونه او ځمکه پنځولي دي؟ هرومرو به وايي: الله ... [زمر ۳۸ (۳۹:۳۸)].

هغوی د بُتانو پر شـفاعت او واسـطو ته د توسـل پر نفي کولو اعتراض کوه او د خدای تعالی لـه يګانـه والي او واحد والي څخه، چې د واسطه معبودانو د پوړيو د لړۍ نفی کول ورسره اړين دي، انکار کوه [بېلګې يې په لاندينيو آيتونـو کې مونډلی شو]: «... وَإِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْآنِ وَحْدَهُ وَلَّوْا عَلَى أَدْبَارِهِمْ نُفُورًا» «... هر کله چې په دې قرآن کې د خپل پالونکي خښــتن يووالی دې ياد کړې، شـا کوي او لـه کرکې [او بېزارۍ] سره لېرې کېږي». [اسراء۴۶(۱۷:۴۶)]، «وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّـذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَإِذَا ذُكِرَ الَّذِينَ مِنْ دُونِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِـرُونَ» او هر کله چې الله په يووالي [= د شفاعت له نفی سره] ياد شي، د هاغو کسـانو زړونه چې په آخرت باور نلري ترهيږي، خو هر کله چې غير له هغه [= شفيعان] ياد شي، هغه مهال دی چې خوښيږي [= ګلان يې له مخونو غوړيږي]! [زمر۴۵(۳۹:۴۵)]، «ذَلِكُمْ بِأَنَّهُ إِذَا دُعِيَ اللَّهُ وَحْدَهُ كَفَرْتُمْ وَإِنْ يُشْــــرَكْ بِهِ تُؤْمِنُوا فَالْحُكْمُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ» دا ډول سرليک لـــه دې لامله دی چې هر کله الله په يووالي مطرح کېده [او توحيد ته د بلنې او لـــه شرک او بُت پالنې څخه د لېرې والي غږ پورته کېده] تاسو انکار کاوه او که هغه ته کوم شريک عنوان کېده [د واسطو او

(c) ketabton.com: The Digital Library


شفيعانو پنبه ورغځېده] باور مو کاوه، نو [نن ورځ] نياو [او پريکړه] د ستر لوړ الله په واک کې ده. [غافر۱۲(۴۰:۱۲)]. او همدا راز «أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَهًا وَاحِدًا إِنَّ هَذَا لَشَـيْءٌ عُجَابٌ» آيا [واقعاً دې سړي ډېر] خدايان يې [په] يو واحد خداى [تبديل کړي!؟ دا واقعاً ډېر زيات عجيبه څيز دى.[ص ۵ (۳۸:۵)].

سربېره پر دې، د بنده ګۍ ويي او جـوله هماغه د غلامۍ او مريتوب د اړيکو او مناسباتو، ياد تازه کوي. چې له لانديني آيت سره چې د خلقت فلسفه او د انسان کرامت بيانوي، په ټکر کې دى. «وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ» او ما، جن [= ناپيژاندي، ناشناسان] او اِنس [= مأنوس آشنايان او ستاسو هم مهالي] نه دي پنځولي،[۵۱] له دې پرته چې [يوازې] زما عبادت وکړي[۵۲] [= د رحماني صفتونو او کمالونو منونکي وي، نه د شيطاني]. [ذاريات ۵٦ (۵۱:۵٦)].

«ابـى هـلال عسـکري» د څلـورمې ليږديـزې پيـړۍ ويـى پيژنـدونکي اديـب، د عبـادت او طاعـت پـه مـنځ کـې د تـوپير پـه اړه کښـلي دي: [عبـادت د خضـوع مقصـد دى او د انعـام د مقصـد لـه وړانـدې کولـو پرتـه سر تـه نـه رسـيږي، لـه دې لامله عبـادت خـداى تـه ځـانګړى دى او لـه «معرفـت» او د منعم لـه شـناخت او پيژنـدنې پرتـه تحقـق نـه مـومي، حـال دا چې «طاعـت» لـه پورتـه قـدرت څخـه پـه فرمـان وړنـه کـې، سر تـه رسـيږي، هغـه کـه خـالق وي يـا مخلـوق وي. لـه ځانـه پـه بـې خـبرۍ کـې د نـورو لـه بلنـې پليـوني کـول پـه مجـازي توګـه داسـې اطاعـت دى چـې عبـادت ګڼـل کېـږي، لکـه څنګه چې د شيطان له وسوسو پليوني کول د هغه عبادت کول دي.]

څرنګه چې د «عبادت» د کليمې لپاره بشپړه ژبـــاړه په پښتو ژبه کې نلرو نو اړمن يو ددې کليمې مفهوم خپله په قرآن او د هغه د وييونو په فرهنګ کې ومومو. له لغوي ليده، د خضـــوع او تذلّـــــل مفهوم په يو ډول د عبادت په کليمه کې نغښتى دى؛ نو لـه لغوي ليده، د عبوديت د کليمې اصل «خضوع او تذلل» دى. د بېلګې په توګه: هاغه لاره چې د لارويانو په پر لـه پسې تګ سره همواره او يا د

(c) ketabton.com: The Digital Library


لارې جوړولو د وسيلو په توسه مسطّح شوي وي، «طَرِيقٌ مُعَبَّدْ»، او د لارې جوړولو ماشين ته ځکه «عابِد» وايي، چې ګواکې سخته او ډبرينه لار همواروي او لار د لارويانو تر پښو لاندې ذليله او خاشع کيږي. نو که هاغې لارې ته چې د لارويانو د پرله پسې تګ له لامله هواره او سمه شوې ده «طريق معبّد» وايي، هغه هم د تګ راتګ د آسانتيا او ناستونزمنتوب له کبله او د لارليکې روڼتيا او پاکېدل يې له تيرو او لوټو څخه دي، په داسې ډول چې ګواکې د لاروي پر وړاندې هيڅ ډول مقاومت او مخنيوی نه څرګندوي. د مريي، عبد نومول هم له هغه د اختيار اخيستل او د ارباب پر وړاندې د هغه د مطيع والي او تابعداری له لامله دی. نو که مريي يا برده ته هم «عبد» وايي د هاغه ذلّت، انقياد او اطاعت له لامله دی. چې د خپل ارباب او خاوند پر وړاندې يې لري.

خو د خدای عبادت په توحيدي شريعت کې له معرفت، شناخت، عشق او محبّت څخه پرته نه حاصليږي، په قرآن کې عبادت لکه د زړه د لارې هموارول او پر هغې د اوبو شيندل او جارو کول د محبوب د سپرلۍ لپاره دي.

د مولوي په عارفانه تعبير:

آب زنيد راه را هين که نګار ميرسد مژده دهيد باغ را بوی بهار ميرسد.

[دشمس له ديوانه ۵۴۹ غزل].

عبادت په دې تعريف کې، د دوست د مخ د لمر مخې ته د زړه د کړکۍ پرانيستل دي چې نور او تودوخه يې د زړه کور ته ورسيږي. اصلاً د جن او انس پنځونه د ذوالجلال و الاکرام ربّ د نيکو اسمائو او صفتونو درياب ته له همدې زړه پرانيستنې او د هغه له مخه د رنګ اخيستنې پرته نه دی- «وَ مَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَ الْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ...» [ذاريات۵۶(۵۱:۵۶)] د شيطان له عبادته ځان ساتنې ته او د خدای په عبادت کې د انحصار او ځانګړنې ګوابن، د شيطان يا خدای د بلنې د منلو پر کچې، څرګندوي. يعنې د شيطان د وسوسو تر آغېز لاندې راتلل چې قرآن يې د شيطان پر وړاندې عبادت ګڼي د خدای تعالی له عبادته مخنيوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوي. خو دا عرفاني تعبيرونه هم د «عبادت» ټول اړخونه نه نغاړي او تر پوښښ لانـدې يې نه راوړي، ځکه چې عمل هم د عبادت له ارکانو څخه دی، او له عبادت سره عمل اړين دی. عشق او زړه بـايلنه او خضوع او خشوع د عبادت لپاره پيليز پړاو او د لارې هموارول دي. چې تر دې ځايـه د زړه کار دی، له دې وروسته بايد پښه په لار کې کېښوول شي او عمل وکړل شي چې عبادت تـه ورسېږي، لکه څنګه چې يې وفرمايل: «ووايه زما مخ کړنه [دعا او نمونځ]، زما مناسک [د ديندارۍ ادبـونه] زما ژوند او زما مرګ د اللهِ ربِّ العالمين لپاره دي» «قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ » [انعام١٦٢(٦:١٦٢)].

د عرفـاني عبـادت او قـرآني عبـادت تـر مـنځ بريـد، پـه همـدې عمـل کـې د عشـق پـه اړينتيـاو او لـه هـاغو «طاغوت»ــانو څخـه ځـان سـاتنه ده چـې د ځـان پـه نسـبت د تعبّـد طلـب او غوښــتنه کــوي، او خلـک د ځـان عــبد او عبيد جوړوي [عَبَدَ الطاغُوت – مائده ٦٠ (٥:٦٠)].

الهي بشارت هاغو کسانو ته ځانګړې دی چې طاغوت ته له تعبّده په ځان ژغورنې سره د خدای لور ته ورستنيږي: «وَالَّــذِينَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوتَ أَنْ يَعْبُدُوهَا وَأَنَابُوا إِلَى اللَّهِ لَهُمُ الْبُشْــرَى فَبَشِّــرْ عِبَادِ » او هاغه کسان چې طاغوتانو [= سرغړوونکو او ظالمو واکمنانو] ته له سر سپارنې لېرېوالی [او ډډه] کوي او د الله لور ته ستنيږي، [د ژغورنې] زيری هغوی ځانګړې دی. نو زما بندګانو ته [چې د طاغوتانو لـه اطاعته يې ځان ساتلی] زيری ورکړه؛ [زمر ١٧ (٣٩:١٧)].

دا سياست پالې او د عبادت د سختوالي او ستونزمن توب ښکارونه او څرګندونه نه ده، د ټولو نبيانو د بعثت موخه د خدای «عبادت» او لــه طاغوتانو څخه ځان ساتنه ده: «وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّــةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ....» [نحل ٣٦ (١٦:٣٦)]. «او [پر دې بنا] مونږ د هر يو امت په منځ کې يو اســتازی [رسول] لېږلی [چې دا پيغام ابلاغ کړي] چې د الله عبادت وکړئ او لــه طاغوت [=مستبد سرغړوونکي] څخه ځان وژغورئ ...».

(c) ketabton.com: The Digital Library


پر دې بنا «عبادت» لـه خلکو او د ځواک له اړيکو څخه يوه بيله شوې، انتزاعي، فردي او خپلواکه چاره نه ده. قرآن د طاغوت له حقانيّته انکار، پر خدای د ايمان او د ژغورنې پر رسې د منګولو ټينګولو شرط ګڼلی، او «د طاغوت ولايت» يې د «ولايت الله» پر وړانـدې ګڼلی دی.

«لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لَا انْفِصَامَ لَهَا....» «په دين [منلو] کې اکراه [او اجبار، زور او اړ ايستل] نشته. [ځکه] په ربښتيني توګه رشد [او کمال ته د رسېدو سمه] لار لـه کږې لارې [بېله او] څرګنده شوې ده. نو که څوک پر طاغوت کافر شي [او ترې انکار وکړي] او پر الله ايمان راوړي؛ بې لـه شکه يې [د ژغورنې او نجات] پر کلکه غوټه [او کړۍ] چې هيڅکله نـه ستېرېږي، چنګ وهلی»[بقره ۲۵٦ (۲:۲۵٦)]، «اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِيَاؤُهُمُ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُمْ مِنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ...» «الله، د هاغو کسانو ولي [=پالونکی او چارسمبالی] دی چې ايمان يې راوړی دی، هغوی [تل د شرک او کفر او جهل لـه تيارو] د [ايمان او اخلاص] رڼا ته راوباسي. او هغه کسان چې [د ايماني حقيقتونو په اړه] کافر شـوي دي، د هغوی اولياء [= پالونکي او چارسمبالي] طاغوتان دي چې هغوی [د فطري ايمان او انساني استعدادونو] لـه رڼا تيـارو تـه وباسي...». [بقره۲۵۷(۲:۲۵۷)]. لـه طاغوته انکار او د هغه نياو ته د رسميت ورکولو نشتوالی او نـه منل، الهي فرمان دی. «... يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا» «... غواړي خپلمنځی پريکړې طاغوت [= مستبد حاکم] ته يوسي؟ حال دا چې فرمان يې موندلی لـه هغه انکار وکړي او شيطان غواړي [د طاغوت حکومت ته په رسميّت بښلو او د معيارونو په تغير] دوی لار ورکي کړي [هغه هم يوه] لېرې بيلاري! [نساء٦۰(۴:٦۰)].

نو ، له شاه او شيخ او پيره او دوی ته له ورته کسانو او څيزونو څخه پلېوني او هر ډول وګړ پالي او وګړنمانځنه ، د شيطان په نسبت د تعبد يوه څانګه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په قرآن کې د عبادت د معنا له اړخونو، بل اړخ او د هغه توپير له پېژندل شوې معنويت پالۍ [Spiritualism] سره، د دين په قالب او بڼه کې شتون او ګوماريدنه، د عبادت د روشمند والي او چلندتوب په معنا دی. انتزاعي او بېلتون واله معنويت پالي او د معنويت په نامه له خلکو بېلتون او ګوشه نشيني چې زموږ په زمانه کې له سخت او زيږه فقاهتي دين څخه د تښتېدونکو لپاره د يو ځايناستي بڼه غوره کړې ده، کومه ځانګړې څرګنده پېژندل شوې کړنلاره او ضابطه نلري، خو قرآني عبادت د الهي کتاب په لارښوونه او د فطري «دين» لـه آيين او نظام سره مطابق دی: «إِنَّـا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِـالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَهُ الـدِّينَ». بې له شکه موږ دا کتاب په حقه [=له ټاکلې موخې سره] پر تا نازل کړ، نو په داسې حال کې د الله بنده ګي وکړه چې دين [=عبادت او د بنده ګۍ طريقه] دې د هغه لپاره نږه [او خالص] کړی وي [= د کتاب په لارښـوونو له شرک او ناخالصوالي لېرېوالی غوره کړه]. [زمر۲(۳۹:۲)].

په توحيدي «عبادت» کې اصلي شرط په عمل کې اخلاص او لـه شرکه پرهيز او ځان ژغورنـه ده. د خدايي موخې درلول په دعا او عبادت کې کافي او بسيا نه ده؛ د زمر په سـورت کې د «...فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًـا لَهُ الدِّينَ» [۲(۳۹:۲)]، «قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًـا لَـهُ الدِّينَ» [۱۱(۳۹:۱۱)]، «قُلِ اللَّهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًـا لَهُ دِينِي» [۱۴(۳۹:۱۴)] جملې او همدا راز د بينه سـورت د «وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَـهُ الدِّينَ» [بينه ۵ (۹۸:۵)] جمله څرګندوي: د خدای په عبادت کې د دين [آيين او لارې] خالصـول، د هغه موّحدانه عبادت کول او په هاغو چارو کې چې خدای ته ځانګړې دي له شرکه په واسطو تورلو کې پرهيز کول دي.

«په عبادت کې پر اخلاص» سربېره، اخلاص په دعا او د خدای په بللو کې هم په قرآن کې يې په ځلونو توصيه شوې ده؛ «فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ» [غافر۱۴(۴۰:۱۴)] «نو الله په داسې حال کې وبولئ، چې دين [= د ژوند او بنده ګۍ طريقه] مو هغه ته نږه [او خالص] کړی وي، که څه هم د کافرانو بد

(c) ketabton.com: The Digital Library


ايسي». او همدا راز «هُوَ الْحَيُّ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ» [غافر٦٥(٤٠:٦٥)] «هغه تلپاتې ژوندى [= مطلق حيات] دى، له هغه پرته بـــل معبود نشته، نو [يوازې] هغه وبولئ په داسې حال کې چې دين [=دژوند او بنده گی طريقه] مو هغه ته نږه [او خالص] کړي وي، ستاينه يوازې الله ته ده چې د نړۍ پالونکی څښتن دی». هر نمونځ گذاره انسان چې روزانه لږ تر لږه ۱۷ځلې د «إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ» جمله تکراروي. د«أِيَّاکَ» ټينگار، همدا اخلاص او د عبادت د منل کېدو شرط دی.

يو شـــمير هم چې اطاعت او «فرمان وړنه» يې د عبادت د ترجمې په توگه نېولې ده. دا ژبـــاړه البته د شيطان له عبادته د پرهيز د فرمان، «أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَنْ لَا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ ...» [يس٦٠(٣٦:٦٠)]، او د ورته موردونو ستونزه حلوي، خو بيا هم د عبادت د کليمې د روح بيانوونکي نـه ده، خو که واى همدا راتله. اطاعت او فرمان وړنـه هغه مهال ده چې کوم فرمان ورکول شي، خو مشرکين د بُتانو په عبادت کې زياتره د خپلو حاجتونو په قبول او د ضرر په دفع کولو او د گټو په جلبولو پسې ول تر دې چې د بُـت پالنې د نظام د اربابانو او آمرينو پسې وي. ډېرى له خلکو ښايي نه پوهېږي چې مشـــرکين هم د خداى له شتونه منکر نه ول بلکې که د پرښتو  په نسبت يا د هاغو بُتانو په نسبت چې د هغوى په نښانې او تمثيل يې جوړول، تعبدى حالت درلود، دا کار يې د خداى تعالى درشـل ته د «تقرب» او نژدېوالي لپاره سر ته رســاوه، نـــــه دا چې د هغوى لپاره په کومه هډواله او اصـالت قائل وي. دا حقيقت د زمر سـورة لومړنيو آيتونو کې چې غير لـــه خدايه عبادت د هر ډول تعبد لـــه نفي کولو سره څرگندوي، که څه هم لـــه خدايي نيت سره وي، او ټينگار کوي چې دين بـــــايد سـل په سـلو کې نږه او خالصانه د خداى لپاره وي [زمر٢(٣٩:٢) او ٣] .

د ټولـو انبيـائو خـبره او د ټولـو اديـانو تـاريخي دعـوه پـر همدې وه چـې لـه «اللـه» پرتـه د بـل هـيڅ عامـل پـه نسـبت نبايـد د تعبـد احسـاس ولرلـی شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


حتا د خپل ځان په نسبت؛ «مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُؤْتِيَهُ اللَّهُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا عِبَادًا لِي مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَكِنْ كُونُوا رَبَّانِيِّينَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتَابَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُونَ» [آل عمران ۷۹ (۳:۷۹)]. [اما] د هيڅ بشر [له هغې جملې موسی او عيسی] سره دا نه ښايي چې الله، آسماني کتاب، حکم او نبوت هغه ته ورکړي، بيا [لکه تاسو برترې غوښتونکو غونډې، د خدای پر لور د بلنې پر ځای] خلکو ته ووايي: د خدای پر ځای زما بنده ګان [= سرسپارلي مريدان] اوسئ! بلکې [پيغمبرانو خو تاسو ته ويل] د [آسماني] کتاب له لارې تعليم ورکوئ او تدريس کوئ چې ربانّيون [= خدايي مربيان، نه د خلکو اربابان] شئ.

د زماني فرعونان هم ددې لپاره چې وکولی شي خلک خپل عبادت ته يعنې تسليم او تبعيت ته وګوماري؛ هغوی ذلت اوعبوديت ته کښوي «وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدْتَ بَنِي إِسْرَائِيلَ» [شعراء۲۲(۲۶:۲۲)]. دا څه ډول يو نعمت دی چې منت يې پر ما ږدې چې اسرائيل دې په بندګۍ نيولي [فرعون ته د موسی^(ع) خطاب].

له دې حال سره ناشکره بندګان ددې لپاره چې په دنيا کې ځواک او عزت لاسته راوړي [نه دا چې دې کار ته قلبي ايمان او اعتقاد ولري] د ځان لپاره يوه الهه نيسي خو ډېر ژر به [په آخرت کې] په دا ډول عبادتونو کافر کېږي او همغوی به ددوی ضد وګرځي: «وَاتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ آلِهَةً لِيَكُونُوا لَهُمْ عِزًّا. كَلَّا سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا» [مريم ۸۱ (۱۹:۸۱) او ۸۲]. او [منکرانو] د الله پر ځای، معبودان ونيول چې د عزت لامل يې وي [= د روزګار په پېښو کې يې ملاتړ وي]. هېڅکله [داسې نه ده]! ډېر ژر به [هاغه معبودان په قيامت کې] د هغوی د نمانځنې [له اغيزمنوالي] منکر شي او ددوی پر ضدّ به شي.

په دې ترتيب ددې لپاره چې د خدای بندګان د جهل او ناپوهۍ له لامله د دنيايي اربابانو مطيع او سرسپارلي نه شي او د زر او زور او تزوير خاوندان هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


له توحيدي نهضـت سره د ســازښـت او يو خوا کېدو او د شرک پر لور د هغه د کړولو فکر له سره وباسي، د کافرون په ســورة کې چې د بعثت په دويم کال کې نـــازل شوى دى، پيغمبر اکرم(ص) ته خرګند فرمان ورکول کېږي. او په ورپسې کلونو کې دا ډول فرمان چې زياتره د «قل» لـه امر سره پيل شوى پر دې تأکيد او ټينګار کوي، او دا امر په مختلفو مهالونو کې تکراروي:

«قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي شَكٍّ مِنْ دِينِي فَلَا أَعْبُدُ الَّـــذِينَ تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَكِنْ أَعْبُدُ اللَّهَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ». ووايه: اى خلکو! که زما د دين له [حقانيّته] په شک [او وټ] کې ياست، نو [ښکاره او په ډاګه اعلام کوم چې] زه به د هاغو کســانو چې تاســو يې د خداى پر ځاى عبادت کوئ، عبادت ونکړم، بلکې د هاغه خداى عبادت کوم چې تاسو مړه کوي [= ستاسو ځان د هغه په لاس کې دى] او ما فرمان موندلى چې [د هغه پر وحدانيّت] لـــــه ايمان راوړونکو اوسم. [يونس۱۰۴(۱۰:۱۰۴)].

«... قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا أُشْرِكَ بِهِ إِلَيْهِ أَدْعُو وَإِلَيْهِ مَآبِ» ووايه: ماته امر شوى چې د الله عبادت وکړم او شريک [او سيال] ورته قايل نه شم،د هغه لور ته بلنه کوم او ستنېدنه مې يوازې د هغه پر لور ده. [رعد۳٦(۱۳:۳٦)].

«قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ» ووايه: ماته امر شوى، الله ته په نږه [او خالصانه] ګروهې [او طريقه] عبادت وکړم. [زمر ۱۱(۳۹:۱۱)] .

«قُلِ اللَّهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًـا لَهُ دِينِي» ووايه: زه د الله [نه د بُتانو]، په داســې حال کې عبادت کوم چې خپل دين [= د بنده ګۍ طريقه] مې د هغه لپاره نږه [او خالص] کړى وي. [زمر۱۴(۳۹:۱۴)] .

« قُلْ أَفَغَيْرَ اللَّهِ تَأْمُرُونِّي أَعْبُدُ أَيُّهَا الْجَاهِلُونَ » ووايه: اى جاهلانو! آيا ماته امر کوئ چې په غير له الله [د نورو] عبادت وکړم؟ [زمر ٦۴ (۳۹:٦۴)].

« قُـــلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّـــذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ...» ووايه: زه د هاغو کسانو له عبادت [او نمانځنې] منع شوى يم، چې تاسو يې [د خپلو حاجتونو لپاره] بولئ. [انعام ٥٦ (٦:٥٦)] او [مؤمن «غافر» ٦٦ (۴۰:٦٦)].

(c) ketabton.com: The Digital Library


که ددې آخرين امت پليونان وکولی شـول خدای تعالی ته په داسـې حال کې عبادت وکړي، چې دين [اطاعت او انقياد] يې يوازې هغه ته نږه او «خالص» کړی وي، ژغورل کېږي او که نـــــه د مخکينيو امتونو په څېر به له تفرقې، ګډوډې، او لاروړکې سره مخامخ شي: وَمَـا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ. وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ. [بيّنه۴(۹۸:۴) او ۵]. او هغوی چې کتاب [تورات او انجيل] ورته ورکړل شـوی دی، ډلې ډلې نه شـول مګر وروسـته له دې چې څرګند دليلونه [او نبي] هغوی ته راغلل [نو د هغوی د اختلاف او دښمنۍ او خپرېدو لامل دهغوی خپل خصلتونه ول، نه الهي کتاب]. په داسې حال کې چې دوی ته له دې پرته امر نه وو شـوی، چې دوی به [يوازې] د الله بنده ګي کوي په داسـې ډول چې دين يې په حق پالې توګه هغه ته [له شرک او ځان غوښتنو څخه] خالص کړی وي، او لمونځ [صـلاة = الله ته مخ کونه او له الله سره اړيکه] قائم کړي او زکات [=تېوليز حقوق] ورکړي، او همدا ټيکاو دين دی [= وده ورکوونکی دين].

## د عبادت ټکه او آفت:

اوس راځو دې ته چې، د عبادت ټکه او آفت څه څيز دی؟ قرآن د مسيحيانو په اړه ويلي چې د هغوی عبادت څه ډول منحرف او کوږ شـوی دی او دا زموږ لپاره کېدی شي د عبرت درس وي، د هغوی د عبادت آفت احبار او رهبان يعني د هغوی ملايانو او ديني سرلارو ته سرسپارنه او له هغوی څخه تقليد دی «اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللهِ»، [توبه ۳۱ (۹:۳۱)]. دوی لــه الله پرته خپل ملايان او اخوندان خپل اربـــابان نېولي دي. نو که انسان، ددې پر ځای چې د خدای تعالی په وړاندې تسليم شي او اندنـــه وکړي چې د خدای کتاب هغه ته څه وايي، ددې پر ځای دې ته پاملرنـــــه او پليوني وکړي چې خاخام يې او کشـــيش او کاردينال او پاپ يې او ددې په څېر نور يې څه وايي او څه نظر فرمايي، نو د قرآن په وينا، هغوی يې خپل اربـابـان نيولي دي. هو، که د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


خبرې د خدای لــــه خبرو سره مطابقي وي، نو دا کومه ستونزه نلري، خو که د هغوی خبرې د خدای لــــه خبرو سره توپیر ولري، او انسان يې خبرې ومني، نو په حقیقت کې د هغوی عبادت يې کړی دی.

دا خبره په روایتونو کې راغلې چې: مَن اَصـغی إلی ناطقٍ فَقَد عَبَدَهُ. هر څوک چې ویونکي ته د زړه غوږونـه وسپاري، د هغه عبادت يې کړی دی. که ویونکی له خدای خبره وکړي، اوریدونکي د خدای عبادت کړی دی؛ او که له شــیطانه ووايي، اورېدونکي د شیطان عبادت کړی دی. غواړم ووایم چې تاسـو ته هم نه ښايي په همدې توضیحاتو کې د زړه غوږونــــه همدې وینا ته وسپارئ، یا په بل هر ځای کې او هر مجلس کې چې د چا خبرو ته غوږ ږدئ. داسـې و نه انګېرل شي چې هر څوک چې هر څه وايي سل په سلو کې به سم وي. «إصغاء» یعنې د ځان او زړه د غوږونو سـپارل. یعني له پیله پر دې بناء ایښــوول چې دا ویناوال هر څه چې وايي صـحیح او سـم دي؛ یعنې غوږ ږدم یوازې ددې لپاره چې هر څه چې هغه وویل ومنم. وايي؛ هر چا چې دا وکړل د ویونکی عبادت يې کړی دی. نو، بــــاید ولیدل شي چې هر څوک چې خبره کوي تر کومې کچې حق ده. او ددې لپاره چې سـړی پوه شي د هغه خبره تر کومې کچې حق ده، اړینه ده چې پخپله حق وپیژني او ددې لپاره يو معیار ولري چې حق لــــه باطله بیل او تمیز کړي. د دیني ویناو په اړه بــــاید د خدای تعالی کتاب محک، کندې او معیار وګومارل شي چې پوه شي پلانکی خبره تر کومې کچې سمه او لــــه حق سره برابره ده، او په عین حال کې اړینه ده تفکر وشي او عقل په کار واچول شي. چې دا معنا په ځلونو په قرآن کې راغلې ده. مثلاً د «زمر» په ســورة کې له هماغه پیله فرمايي:

أَلَا لِلَّهِ الــــدِّينُ الْخَالِصُ، پوه شـئ چې دین بــــاید د خدای لپاره خالص شي؛ وَالّـَذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِه أَوْلِياء. خو هغه کسان چې په ظاهره خدای نمانځونکي دي، خو لــــه خدای پرته نور ولیان نیســـــي او له هغوی سره د ولایت اړیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټینګوي، د هغوی اســتدلال څه دی؟ وايې: مَا نَعْبُدُهُمْ، موږ خو ددوی عبادت نــــه کوو، «إِلَّا لِيقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى [زمر۳(۳۹:۳)]. له دې پرته کوم بل مقصد او موخه نـه لرو چې چې د الله پر لور زموږ د تقرب او نژدېوالي وسیله وي!

کله چـې پیغمبر(ص) مشـرکینو تـه ویـل بـاید یـوازې د خـدای عبـادت وکـړئ، نه ددې بُتانو، ویـل یـې: مـوږ خـو دې بُتـانو تـه عبـادت نــه کـوو، مـوږ چـون نه شو کـولی نیـغ پـه نیغـه د خـدای پـه نښـې، پټـې او سراغ پسـې لاړ شـو، دې بُتانو تـه لـه توسـل او اړیکـې سره [چـې هغـوی یـې د پربنسـتو تمثیـل او نمـاد ګڼـل] خـدای تـه نژدیـوالی لټـوو: هَـؤُلاء شُـفَعَاؤُنَا عِنـدَ اللـهِ[یـونس ۱۸(۱۰:۱۸)]. دوی د خدای پـه نـزد زمـوږ شـفیعان دي. او قـرآن د هغـوی پـه ځـواب کـې فرمـايي؛ دیـن بــاید خــالص د خــدای لپـاره وي. او پـه پـای کـې: اللـهَ یحْکُـمُ بَیـنَهُمْ فِـي مَـا هُـمْ فِيـهِ يخْتَلِفُـونَ [زمـر۳(۳۹:۳)] خــدای بــه د قیامــت پــه ورځ کــې، ددوی پـه دې اخـتلاف کـې چـې رامنځتـه کـړی یـې دی حکـم وکـړي. کـوم اخـــتلاف؟ همــدا د خــدای د کتــاب یــو اړخ تــه اېښــوول او د اشخاصــو لــه نظریــاتو تقلیــد! دا د پلانکــې آغـا مریــد دی، هاغــه یــو د هاغــه بــل آغــا مریددی، دا د پلانکي مجتهـد پـر رسـالې عمـل کـوي، هاغه بل یـو، پـر بلـې رسالې، دا د پلانکي آغا پسـې نمـونځ کـوي او هاغـه بـل پـه یـو بـل آغـا پسـې. دا د پلانکـې مدرسـې پلیـوني کـوي او هغـه بـل د هـاغې بلـې مدرسـې، دا ټول ددې پـر ځـای چـې اسـلامي ټولنـه ټولـه یـوه ټوټـه او یـو لاس د خـدای بنـدګان وي او ټـول د خـدای خـبرې تـه مـخ کـړي، دې اختلافونـو تـه مخـه کوي نو ځکه ترې دومره اختلافونه پیدا شوي دي.

دا دومره ډېرې مرجع ګانې، دا دومره ډېرې رسالې، دا دومره ډېر مذهبونــــه او لارې، د قرآن لـه توحیدي روح سره څه اړیکه او ریښــــه لري؟ البته پـه ټولو مذهبونو او ادیانو کې دا د پیرۍ او مریدۍ لوبـه کتلی شو او دا یوازې په اسلام کې نه ده. مسیحیت په ځلونو تر موږ بتر دی! په همدې اروپا کې وینو چې لس

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګونه فرقې شتون لري. له هر واټ او هرې لارې چې تېرېږې د يوې فرقې کليسا ولاړه ده. مګر عيسی له يوه تنه ډېر دی؟ مګر انجيل په اصل کې لـــه يوه کتابه ډېر دی؟ نو دا دومره تفرقې د څه لپاره دي؟

وايي: إِنَّ اللهَ لا يهْدِى مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ [زمر۳ (۳۹:۳)]. دا کذب او دروغ دي چې يو څوک ووايي د نورو له شـــفاعت سره کولی شي خدای ته تقرب او نژدېوالی ومومي. فرمايي دا، هم دروغ دي او هم د کفر نهايت دی. «كَفَّارٌ» د کفر مبالغه ده. لکه څنګه چې انســان يوازې خدای تعالی پنځولی او هغه ته يې هدايت کړی دی، نو نشي کېدی څوک ووايي زه لـه خدای سره اړيکه نه لرم او بايد د واسطو له لارې هغه ته مخه کړم. هوکې، واسطې د معلم او مربي په عنوان کېدی شي انسان ته مرسته ورسوي او هغه له خدای تعالی سره آشنا کړي. خو په قرآن کې په زغرده او برېښـــنده توګه راغلي دي چې: « موږ هيڅ پيغمبر او رسول نه دی لېږلی چې لـه خلکو يې غوښتي وي مريد يې اوسي او عبادت يې وکړي» «كُونُواْ عِبَادًا لِّي مِن دُونِ اللهِ» بلکې هغوی د خلکو لاس د خدای په لاس کې ايښوده او ويل يې: «وَلَكِن كُونُواْ رَبَّـانِيينَ»، پخپله تاسو ربّاني او خدای ته د تقرب اهل اوســـئ. څه ډول؟ «بِمَا كُنتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتَابَ وَبِمَا كُنتُمْ تَدْرُسُـــونَ» [آلعمران ۷۹ (۳:۷۹)]. له هاغه کتاب سره چې تعليم ترې اخلئ او ديني زده کړه چې مومئ پخپله تاســو به ربّاني شـــئ؛ له دې وروســـته به تاســو پخپله له خپل پالونکي څښتن سره مرتبط او په اړيکه کې اوسئ.

انبيائو او اوليائو خپل ځانونه اړخ ته کول او نه يې غوښــتل واســطه اوسي ددې لپاره چې خلک يوازې د هغوی لـه لارې د خدای عبادت وکړي. ټوله هڅه يې دا وه چې خـــدای معرفي کړي. دوی وسيله ول چې خدای تعالی وروپېژني نه خپل ځان. په دين کې د انحراف او کږېدني لـه عاملونو او لاملونو يو دادی چې يو څوک د خدای په بندګانو پورې ونښــلي او و انګيري او ووايي چې يوازې دده لـــه لارې کولی شـــئ خدای ته مخه کړئ، او يا دا چې سم او نيغ تلل د

(c) ketabton.com: The Digital Library


انبيائو او اوليائو کار دی، لـه دې توجيح سره چې موږ د خدای تورمخي بندګان د هغه په نزد کوم پت او ابرو نلرو چې موږ ته په خپل درشل کې لار راکړي!

په څه ډول چې موږ په اوســنيو زمانو کې د ديني مســئلو په اړه خبره کوو دا اســتدلالونه دنيايي مقايســې او پرتلې دي. موږ داســې ګومان کوو چې خدای تعالی هم لکه د دولتي مقامونو او مسئولينو غوندې دی چې عادي انسانانو ته لار نه ورکوي او موږ هم چې، البته عادي وګړي يو او داسې نــامتو څوک نه يو، نو بــايد يوه ډله ولټوو، يوه واسطه ځان تـــه وتوږو، برابره يې کړو او دا او هغه وګورو، چې بـــالاخره عريضه او حاجت مو د خدای په درشل کې د خدای د عرض شرف ته ورسوي. له همدغه باطل قياس سره، د دين او عبادت په کار کې په هاغو کسانو پسې ځو چې انګيرو د خدای په نزد مخور دي او غواړو هغوی د خدای په نزد د ځان لپاره شفيعان کړو او د ځان لپاره يې د تقرب د وسيلې په توګه وګومارو. خدای تعالی وايي ته بـــايد پخپله ماته راشــې. خدای تعالی ته تقرب لټول او نزديکت کوم ميخانيکي کار نـــــه دی چې مثلاً کوم ليک چا ته ورکړې چې پورتنيو مقامونو ته يې ورسوي. ستا زړه او قلب بايد د خدای په نزد حضور ومومي. قلب يا زړه خو نـه شې کېدی د بـل چا په لاس کې ورکړې چې ته دا زما لخوا د خدای حضور ته يوسه. عبادت لـــه قلب سره کيږي، له خدای سره هره اړيکه قلبي اړيکه ده، څه ډول سړی کولی شي په دې کار کې واسطه وتوږي؟ اصلاً عبادت، په دوه اړخيزه او يوه تنګاتنګه اړيکه کې تحقق مونـــدلی شي. په دې اړه بيا هم د «زمر» په سورة کې الله تعالی فرمايي: وَالَّـذِينَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوتَ أَن يَعْبُدُوهَا، هغه کسـان چې طاغوت ته لـــــه تعبد څخه د ځان سـاتنه کوي [چې طاغوت هم البته يوازې د تاج او تخت سره تړاو نـــه لري، هر څواکمن يا بل هر څوک چې ادعا وکړي زه لومړنی او وروســتنی خبره کوم، زه پر ټولو اوچتوالی لرم او زما فکر او انــد پر ټولو واکمن او برلاسی دی، طاغوت دی، توپير نــه کوي تاج يې پر سر وي يا پګړی يا خولۍ، پکول، يا قره قلي؛ يا دا يو هم نــه وي، سرتور وي، ببر سر ولري او يا پر سر يې يو ويښــته هم نه وي کل وي، که تور سری وي يا ســپين سری. هر څوک چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


لــه خپله حقه تجاوز وکړي طاغوت دی]، او خدای تعالی هم د «طاغوت»ــانو لــه منګولو څخه د خلاصون لپاره، خپل بندګـــان له طاغوت څخه په ځان ساتنې د خدای لور ته بلي او هاغو کســانو ته چې (د طاغوت د فکري خط پر ځای) «قول» اوري او له بهترينه يې تبعيت کوي زيری او بشــارت ورکړی او هغوی يې خپل بندګان (نه د طاغوتانو بندګان) او الهي هدايت شوي او د انـــد خاوندان بللي دي وايي:

وَالَّذِينَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوتَ أَنْ يَعْبُدُوهَا هغوی چې طاغوت ته لــه سرسپارنې ځان ساتي او نه غواړي بل هيڅ بنده ته سرسپارلي او سر په فرمان وي، وَأَنَــابُوا إِلَى اللهِ، او د خپلو خطاګانو د تصحيح لپاره توبـــه کاږي او د خدای لور ته بېرته ستنېږي، لَهُمُ الْبُشْـرَى، بشارت [زيری] دي وي پر دوی. خوښي دي وي ددوی پر حال. فَبَشِّـــرْ عِبَادِ. الَّذِينَ يَسْـتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَـنَهُ ، أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُولَئِكَ هُمْ أُولُو الْأَلْبَابِ [زمر ۱۷(۳۹:۱۷) او ۱۸]. نو، زيری دي وي پر هغوی چې «قول»، يعنې د خدای قول، اوري او پر دې تر ټولو غوره خبرو عمل کوي. دوی هغه خلک دي چې الله ورته ســمه لار ښـــوولې او همدوی عقلمن او د اند خاوندان دي.

پوهيږو چې ډېريو ويلي لــه «القول» څخه مقصد په دې آية کې، د ټولو خبرې دي، يعنې د هغه «الف او لام» يې، په اصطلاح د جنس الف او لام اخيستي دي. يعنې د ټولو خبرې بايد واورېدل شي او د هغوی لـه بهترينو پليوني وشي. دا برداشت چې د آزاداندی نبنه ده، البته په سياست او نورو دنياوي چارو کې سم دی او لـــه دې پرته کومه چاره هم نشــته، خو په دې آية کې الهي هدايت د طاغوت د خبرې پر وړاندې او د خدای او طاغوت په دوه لارې کې انتخاب دی. زموږ په انـــد القول دلته معرفه دی او معنا يې هماغه پېژندل شـوی قول، يعنې د خدای قول او فرمان دی چې هغوی يې اوري او لـه هغه د غوره او بهترين قول په توګه پليوني کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


قرآن په ځلونو دې معنا ته اشاره کړې ده. په قرآن کې ددې مسئلې په اړه [چې البته همدا د تاريخ په اوږدو کې تل د اديانو اصلي ستونزه وه] ډېر ټينګار شوی دی چې د پيغمبرانو مخالفانو، تل د توحيد پر سر لـه هغوی سره شخړه درلوده او دا چې الهي اســتازي د الهي توحيـد او مطلقه ربوبيت اعلانوونکي، منادي او ډنډورچيان ول او ويل يې ربّ او الله يوازې يو دی او له هغه پرته نه دی.

د عاد قوم، هود (ع) ته په خطاب کې وويل: آيا ته راغلی يې چې يوازې خدای ته عبادت وکړو او هغه څه چې زموږ پلرونو نمانځل پرېږدو ....

قَالُواْ أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللهَ وَحْدَهُ، تـه راغلی يې موږ ته وايي چې يوازې واحد خدای ته عبادت وکړو! وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَــــاؤُنَا، [اعراف۷۰(۷:۷۰)]. او هر څوک له هغه پرته پرېږدو؟ آخر دا څنګه شوني ده؟ چې موږ ټول هغه هر څه پرېږدو چې زموږ پلرونو يې عبادت کوه. په ځلونو په قرآن کې راغلي چې کافرانو تعجب کوه چې پيغمبر غواړي ددې ټولو معبودانو ټغر ټول کړي او ووايي ستاسو معبود فقط يو دی. موږ زرګونــــه ډوله اړيکي لرو، ډلې لرو، واسطې لرو؛ او هغه وايي فقط او فقط يوه ته مخه کړئ!

مشــــرکينو په دا ډول ايراد، اعتراض او نيوکې بسنه ونکړه هر مهال به چې کوم موحد بنده (نـه د زر او زور يا تزوير د خاوند بنده) قيام کاوه چې خدای وبولي ټولو د هغه پر ضـد اجتماع کوله او نيوکې به يې پرې کولې: «وَأَنَّ الْمَسَـاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا.» د سجدې ځايونـه او مسجدونه [نمونځتونونه] يوازې د خدای لپاره دي او په دې ودانيو کې له الله پرته بل څوک مه بولئ؛ يعنې د عبادت په محل او مقام کې حتا نشــي کېدی لـه الله پرته بل څوک او يا بل څيز وبلل شي. وَأَنَّهُ لَمَّا قَـامَ عَبْدُ اللهِ يدْعُوهُ. خو همدا چې د خدای يو بنده وغواړي يوازې يو خدای وبولي: كَـادُوا يكُونُونَ عَلَيهِ لِبَدًا. ټول پر هغه ښورېږي او نيوکه پرې کوي؛ پر هغه يرغل کوي. وروســې فرمايي قُلْ إِنَّمَا أَدْعُو رَبِّى. ای پيغمبره

(c) ketabton.com: The Digital Library


ووايه زه يوازې د خدای عبادت کوم. وَلا أُشْرِكُ بِهِ أَحَدًا. [جن۱۸(۷۲:۱۸) تر۲۰] او له خدای سره هيڅوک نه شريکوم.

له قرآنه مو د آيتونو يو لړليک وړاندې کړی چې په هغوی کې يې فرمان ورکړی مسلمان بايد فقط او فقط خدای ته تسليم اوسي. قرآن توضيح ورکړې که نور هم خدای تعالی سره په بلنه او پاملرنه کې شريک کړئ، ستاسو ټولنه به په تفرقې [ډول ډول بېلبېلتونو] اخته شي يعني همدا چې وينو؛ يو يې يهودي، يو يې مسيحي، هغه بل مسلمان، يو سني، يو شيعه، يو دولس امامي، يو اته امامي، يو څلور امامي. په سنيانو کې يو په يو مذهب، هغه بل په بل مذهب، يو اهل حديث، هغه بل، په بل کوم مذهب ... په دولس امامي کې هم يو وايي زه ددې آغا مريد يم، بل د هاغه بل آغا مريد دی، په يو صحن کې يو شمېر دې آغا پسې نمونځ کوي، يو شمېر د هغه بل آغا پسې نمونځ کوي او د هر چت لاندې يو جماعت د يو آغا په امامت؛ دا مدرسه د هغه بلې مدرسې او هغه د بلې پر ضد، لنډه دا چې زر ډوله څانګې او فرقې او ډلې ټپلې.

حل لار يې څه ده؟ حل لار يې قرآن وړاندې کړې ده: يوازې الله وبولئ او الله ته مخه کړئ. همدا او بس. يهودي او مسيحي او مسلمان، که فقط هغه وبولي، ټول يو له بل سره ورونه کېږي. مسلمانان هم که يوازې هغه وبولي، نور به د سُني او شيعه تر منځ اختلاف شتون ونلري. دا خطوط، ليکي او اړوندونه چې موږ يې يو له بله بېل کړي يو، ټول شرک دی.

فرمايي: وَلا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ. پاملرنه وکړئ دا د قرآن آية دی؛ وايي له مشرکانو مه اوسئ. مشرکان کوم کسان دي؟ مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ، هغوی چې دين يې فرقه فرقه کړ: وَكَانُوا شِيَعًا، او شيعه شيعه او متفرق شول، كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ. [روم ۳۱ (۳۰:۳۱) او ۳۲]. او هره ډله هم چې زړه يې په خپل حزب او فرقه خوښ دی. دا وايي زه دا لرم، هغه بل وايي زه دا لرم. يو د دين په دې برخې پورې نښتی، هغه بل د دين په هغه بلې برخې پورې نښتی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


يو په اهل بيت، يو په قرآن، يو په حديث او روايت، يو هم په تاريخ او سنت او ټول خپاره او يو تر بله بېل. او دا مسلماً شرک دی، چون غير توحيدي توکي دين ته ننوتي دي او موږ يې يو تر بله بېل کړي يو. دا منيّت او ځان غوښتنې دي؛ کله چې فردي، قومي، قبيلوي، ملي او نژادي «منيّت»ونه په کاروَنه کې راشي، تفرقه رامنځته کېږي او مؤحد په مشرک تبديلېږي.

لويه خدايه! موږ له هر ډول شرک او په شرک ککړو اندونو او کړنو څخه وساته! پالونکی څښتنه! ددې زمانې د مشرکينو وسوسې هم ډېرې خطرناکې دي، موږ د هغوی په دامونو کې له نښلېدلو وساته.

يا الهي! موږ ته دا راز شجاعت، صراحت، او قاطعيت مرحمت کړه چې لکه د پيغمبر اکرم(ص) په څېر له کفر او شرک سره د هر ډول سازښت وړانديز رد کړو.

صدق الله العليّ العظيم.

---

يادونه: ددې تشريح د ليکلو پر مهال لاندينيو سرچينو ته هم مراجعه شوې ده:


۱ ـ نظم قرآن ـ د عبدالعلي بازرگان ليکنه

۲ ـ آشنايي با قرآن ـ د مرتضی مطهري ليکنه

۳ ـ في ظلال القرآن ـ د سيد قطب ليکنه

۴ ـ تفهيم القرآن ـ د مولانا سيد ابوالاعلی مودودي ليکنه

۵ ـ تدبر قرآن ـ د مولانا امين احسن اصلاحي ليکنه

٦ ـ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ـ عبدالعلي بازرگان

۷ ـ الميزان في تفسيرالقرآن ـ د سيد محمدحسين طباطبائي ليکنه

۸ ـ کابلي تفسير [قرآن کريم ترجمه او تفسير ـ مولانا محمود الحسن ديوبندي او علامه شبيراحمد عثماني] پښتو کوونکي: د عالمانو يوه ډله

۹ ـ پرتوی از قرآن ـ د سيد محمود طالقاني ليکنه

۱۰ ـ تفسير نمونه ـ د آيت الله مکارم شيرازي او ورسره د علماو د پلاوي ليکنه

۱۱ ـ تفسير نور ـ د مصطفی خرمدل ليکنه

۱۲ ـ تابشي از قرآن ـ د سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي قمي ليکنه

۱۳ ـ تفسير باران ـ د دکتور مهدي خُدّاميان آراني ليکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۴ ـ ترجمه تفسیر طبري ـ د حبیب یغمائی په اهتمام او تصحیح
۱۵ ـــ تفسیر ابن کثیر [حافظ عمادالدین ابوالفدا اسمعیل بن عمر ابن کثیر الدمشقي] اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي
۱٦ ـ معارف القرآن ـــ د مولانا مفتي محمد شفیع لیکنه
۱۷ ـ تفسیر مصباحین (اردو) ترجمه و شرح تفسیر جلالین ـ لیکونکي : جلال الدین محلي او جلال الدین سیوطي ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لیاقت علي رضوي
۱۸ ـ تفسیر کمالین د جلالین تفسیر اردو شرح د : مولانا محمد نعیم دیوبندی
۱۹ ـ د قرآن عظیم الشان پښتو ژباړه ـ مولوي قیام الدین کشاف
۲۰ ـ عزیزالتفاسیر ـ د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر ـ مولوي سلطان عزیز (عزیز)
۲۱ ـ صفوةالتفاسیر ـ د محمدعلي الصابوني لیکنه ـ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده
۲۲ ـ د قرآن پلوشې ـ د ګلب الدین حکمتیار لیکنه
۲۳ ـ تفسیر دېوبندي ـ د مولوي عبدالحنان لیکنه
۲۴ ـ حکمة القرآن ـ د مولوي امین الله پېښاوري لیکنه
۲۵ ـ تفسیر ایوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبیدالله ایوبي لیکنه
۲٦ ـ تفسیر احسن الکلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي لیکنه
۲۷ ـ قرآن کریم په پښتو ـ د اجرالدین اقبال ژباړه
۲۸ـ شرحې بر سوره های قرآن ـ عبدالعلي بازرګان ـ د عبدالعلي بازرګان وېب پاڼه [bazargan.com]
۲۹ ـ تفسیر روح القرآن ـ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صدیقي.
۳۰ ـ د قرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه ـ مولوي جانباز سرفراز
۳۱ ـــ روح المعاني فی تفسیرالقرآن العظیم والسبع المثانی ـــ العلامه ابی الفضل شهاب الدین محمودالالوسی البغدادي
۳۲ ـ تفسیر جواهرالقرآن ـ مولانا حسین علي
۳۳ ـ تفسیر روح البیان ـ شیخ اسماعیل حقی البروسوی
۳۴ ـ «کنزالایمان او تفسیر نورالعرفان»ترجمه احمد رضاخان بریلوي، تفسیر احمد یارخان نعیمي
۳۵ ـ کشف الاسرار و عُدة الابرار ـ [د قرآنکریم ادبي او عرفاني تفسیر] خواجه عبدالله انصاري
۳٦ ـ د قرآن رڼا [د قرآن پښتو معنا او لنډ تفسیر] مولوی محمد ظاهر اسدالله مکي
۳۷ ـ تفسیر الفخرالرّازی المشهور بالتفسیرالکبیر و مفاتیح الغیب، امام محمد الرازی فخرالدین
۳۸ ـ التّفسیرالمبین ـ دوکتور عبد الرحمن بن حسن النّفیسه
۳۹ ـ تفسیر قرطبی ـ محمد بن احمد بن ابوبکر قرطبي، ترجمه اردو: پیرمحمد کرم شاه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**